# انکشاف شهر

د کور او ښار جوړولو وزارت د نشراتو او عامه اړیکو ریاست
سال ۱۴۴۶هـ ق، ۱۴۰۳ هـ ش، ربع دوهم

۶۰ گڼه





د کور او ښار جوړولو وزارت!
د مسکن او ښارګوټو جوړولو په برخه کې پانګوالو
ته اسانتیاوې برابرې کړې او ملاتړ یې کوي.

www.mudh.gov.af

بسم الله الرحمن الرحیم

# فهرست عناوین


سخن نخست

گزارش و اخبار مهم

کاربرد جی ای اس در شهرسازی و مدیریت شهری

د ښاري سرغړونو مخنیوي ریاست؛ دندې، موخې او فعالیتونه

مسکن اجتماعی

د کابل ښار په ترانسپورټي سیستم کې د ترافیکو مدیریت رول

مصاحبه

په دندو کې مسولیت منل

طرح های مسکن قابل استطاعت ریاست تخنیکی مسکن



د امتیاز خاوند: د کور او ښار جوړولو وزارت

مسؤل مدیر: محمد کمال افغان

د مسؤل مدیر مرستیال: عزیزالله فروغي

اډیټور: محمد کمال افغان، عبدالله فکور

لیکوالان: عبدالله فکور، عزیزالله فروغي، محمد یوسف روستائي، مولوي بسم الله غواص شملزی، انجنیر رحمت الله بیات، انجنیر احمد رضایي

خبریالان: میوند خپلواک

ډیزاینر: محمد عمران عزیزي

عکاس: محمد سلیم شریفي، فرهاد شاغاسي

وېشونکي: محمد سمیع عزیزي، سید مرتضی موسوي

چاپ: شرکت دولتی مطابع آزادی

د کور او ښار جوړولو وزارت د نشراتو او عامه اړیکو ریاست

مهالنۍ مجله کال ۱۴۴۵ هـ ق



نښه: ۹مه ناحیه، ۳یم مکروریان، د کور او ښار جوړولو وزارت، کابل افغانستان

اړیکو شمیرې:

+۹۳۲۰۲۳۰۰۷۱۲

+۹۳۷۸۱۲۸۸۷۳۷

ویب پاڼه: www.mudh.gov.af

# سخن نخست

## طرح نقشه‌ها و پلان‌ها، شکوفایی شهرها

پلان‌های شهری با طرح برنامه‌ریزی‌های سنجیده شده‌ی علمی و تخنیکی مطابق به معیاری‌های مدرن شهری، دریچه یا دورنمای رشد پایدار و توسعهٔ معیاری را در شهرها به ارمغان دارد. انکشاف متوازن با استفاده از مشارکت مردمی، ارتقاء جایگاه اقشار ضعیف و شناسایی محرک‌های اقتصادی شهر، دستیابی به توسعه شهری را تسهیل می‌کند، توسعه منظم شهری در مراکز شهرهای بزرگ با چارچوب مشخص علمی از تخریب ساحات تاریخی و زراعتی جلوگیری می‌نماید و طرح و تطبیق پلان‌های شهری می‌تواند که شهرها را با دسترسی عادلانه به خدمات شهری، شکوفا نماید. مشارکت عامه، یعنی که سهم‌گیری مردم در ساختن افغانستان آباد و سر افراز، نه‌تنها یک وظیفه ملی و قانونی، بلکه وظیفه دینی و شرعی برای همه ساکنان این سرزمین است. انجام این وظایف و رسیدن به اهداف مورد نظر، ایثار و فداکاری و تلاش‌های شبانه‌روزی را بصورت جدی می‌طلبد و همه باید برای روزنه‌های امید و شکوفایی، تلاش‌های سومند را داشته و برای عملی شدن آن در شکوفا ساختن کشور تلاش نمایند.

از جانب دیگر، سکتور شهری که رکن اصلی برای شکوفایی و توسعه شهری است و از جمله وزارت شهرسازی و مسکن با تهیه پلان‌های شهری مسیر و نقشه راه را ترسیم می‌نماید. این وزارت ظرف یکسال گذشته 57 پلان شهری را طرح، ترتیب، ویزه و منظور کرده است و امید است که با عملی شدن این پلان‌ها که شامل پلان‌های منطقوی، ماستر پلان‌ها، پلان‌های تفصیلی و بهسازی در شهرهای مختلف ولایات و ولسوالی‌های کشور می‌شود، بتواند وضعیت شهرها را که تا اکنون به مشکل جدی مواجه است حل کرده و سهولت‌ها و مزیت‌های بهتر زندگی را برای شهروندان کشور از این رهگذر مهیا و به ارمغان آورد. این وزارت درسال پار ، ماسترپلان شهرخوست، ماسترپلان شهر گردیز و پلان تفصیلی شهرهای لشکرگاه، غزنی، اسعد آباد کنر، میدان شهر و پلان‌های تفصیلی ولسوالی‌های شاه ولیکوت علیا و سفلی، ولسوالی‌های میوند و غورک قندهار و گمرک شملزی ولایت زابل ر ا طرح و ترتیب و جهت تطبیق به شاروالی‌های مربوطه تحویل داده است.

از سوی هم وزارت شهرسازی ومسکن در هماهنگی شاروالی کابل شبکات سرک شهرکابل را نیز طرح کرده که اکنون عملی شدن آن توسط شاورالی کابل به شدت جریان دارد. باید گفت، به منظورکاهش ازدحام در شهرکابل وزارت شهرسازی و مسکن برای کاهش ازدحام ترافیک چهار ساحه را که شامل ولسوالی چهارآسیاب، خاکجبار، استالف و ارغندی پغمان می‌شود جهت ساخت و ساز ترمینال ترانسپورتی، تثبیت نموده است. با این حال وزارت شهرسازی مسکن 249 نقشه مهندسی را نیز طرح و دیزاین، 163 نقشه ساختمانی را در مرکز و ولایات ویزه کرده و روی (23) نقشه دیگرکارش جریان دارد و همچنان به تعداد 56 ساحه به منظور اعمار شهرک‌ها، سروی توپوگرافی گردیده است. کار زیربنایی، توپوگرافی و لیول‌کاری ساحات و برخی کارهای ابتدایی دیگر در شهر کابل جدید نیز جریان دارد که این شهرجدید بدیل مناسب جهت کاهش جمعیت فعلی شهر کابل می‌باشد. طرح پلان تفصیلی برای 13 شهرکشور جریان دارد و در عین حال برای 8 ناحیه شهرهرات و همچنان ولایت لغمان، مزار شریف، قندوز، فاریاب و فراه پلان بهسازی تهیه شده است و پلان‌های شبکات ساختمانی برای شش ولایت (میدان وردک، پکتیکا، خوست، لوگر، قندهار، زابل) نیز طرح و دیزاین شده است. امید است که تلاش‌های این وزارت از رهگذر سرمایه‌گذاری برای توسعه شهری باعث بهبود زندگی مردم گردد و راه را بسوی ترقی و تعالی هموارتر سازد.




# د کور او ښار جوړولو وزارت د تېر یو کال فعالیتونه او لاسته راوړنې له ملت سره شریکې کړې

ملت ته د دولت د حساب ورکولو په لړ کې دا ځل د کور او ښار جوړولو وزارت د تېر یو کال فعالیتونو او لاسته راوړنو په تړاو خپل کاري راپور وړاندې کړ. د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزیر الحاج شیخ حمدالله نعماني وویل، دغه وزارت په تېر کال کې د ښاري چارو په برخه کې (57) پلانونه طرح، ترتیب او منظور کړي، چې له جملې یې د خوست او پُل علم ماسټر پلانونه ، د لښکرگاه، غزني، اسعد اباد او میدان ښار هادي پلانونه او دغه راز د لوړ شاولیکوټ او کوز شاولیکوټ ولسوالیو، لوړ میوند ولسوالۍ او غورک ولسوالۍ تفصیلي پلانونه دي چې ترڅنگ یې د څو ښارونو لپاره د بهسازۍ پلانونه طرح، ترتیب او منظور شوي دي.

ښاغلي شیخ حمدالله نعماني وویل، پر دې سربېره یې د زابل شملزي گمرک لپاره تفصیلي پلان طرح او ترتیب کړی، د قطر هستوگنیزې پروژې د لومړي فاز چارې یې بشپړې او په نږدې راتلونکي کې به یې د دویم فاز چارې پیل کړي او دغه راز د نیله باغ هستوگنیزې پروژې عملي چارې پیل شوي، چې شاوخوا ۲۵ سلنه یې پرمختگ کړی او تمه ده په (38) میاشتو کې بشپړې شي. نوموړي په دغه خبري کنفرانس کې وویل، د کابل ښاروالۍ سره په گډه یې د کابل ښار د سړکونو شبکه جوړه او عملي کارونه یې د ښاروالۍ له لوري روان دي. د هغه په خبره، کندهار ولایت کې یو کوچنی ښارگوټی جوړ او تسلیم شو او په هلمند ولایت کې د (500) کورنیو لپاره د ښارگوټي جوړولو چارې پیل شوي دي. دغه راز یې، ننگرهار کې د (20) زره کورنیو لپاره د مسکن په موخه سروې ترسره کړي او په (29) ولایتونوکې د مهاجرینو لپاره یې (46) ښارگوټي چمتو کړي دي. سرپرست وزیر وویل، د موجوده پلانونو پر بنسټ یې په کابل کې د کم منزله او لوړ پوړو ودانیو حقوقي او تخنیکي راپور د کابل ښاروالۍ سره په گډه چمتو کړی چې د ریاسة الوزرا محترم عالي مقام ته به وړاندې شي. نوموړي زیاته کړه، په کابل ښار کې د ترافیکي گڼې گوڼې کمولو په موخه یې د کابل په څلورو برخو چهاراسیاب ولسوالۍ، خاکجبار، استالف او ارغندې کې د بار وړونکو موټرو لپاره د ترمینل جوړولو په موخه ترانسپورت وزارت ته د ځمکې په انتقال، پلان، طرح او ښاري او ساختماني ډیزاین کار پیل او روان کړی دی. په نوي کابل ښار کې د یو معیاري طبي کمپلیکس جوړولو په موخه پر پلان، طرح او ډیزاین کار پیلول، د کابل – کندهار پر لویه لاره د مساجدو جوړولو په موخه (312) نقشو د طرحې او ډیزاین، کابل کې د جمهوریت روغتون په نوي تعمیر کار او داسې نور مهم موارد هغه ټکي وو، چې ښاغلي سرپرست وزیر شیخ حمدالله نعماني یې یادونه وکړه. ورپسې د ښاري چارو محترم مرستیال شیخ مدارعلي کریمي بامیاني دغه کنفرانس کې وویل، د (13) ښارونو لپاره یې تفصیلي پلانونو باندې کار پیل او دوام لري.

ښاغلي شیخ مدارعلي کریمي بامیاني وویل، د هرات (8) ناحیو او د لغمان، مزار شریف، کندز، فاریاب او فراه ولایتونو د ځینو سیمو لپاره یې اصلاحي پلان جوړ کړي دي. د تاریخي ابداتو او قدیمي ښارونو د خوندیتوب او ترمیم برخ کې د طرزالعمل مسوده، د هرات قدیمي ښار، د بامیانو قدیمي ښار او د څو نورو ښارونو د خوندیتوب او ترمیم لپاره پلان، د گردیز بالاحصار د ترمیم پر طرحې او ډیزاین کار، د کندهار تاریخي ښار د مرمت لپاره د بهسازۍ پلان او داسې نور موارد بیا هغه موضوعات وو، چې ښاغلي بامیاني یې په تړاو وضاحت ورکړ. ورپسې ملت ته د دولت د حساب ورکولو کنفرانس کې د دغه وزارت د نشراتو رئیس او ویاند محمد کمال افغان وویل، دغه وزارت په مرکز او ولایتونو کې د (249) مهندسۍ نقشو طرح او ډیزاین کړی، (163) ساختماني نقشې یې ویزه کړي او پر (23) نورو یې کار روان دی. محمد کمال افغان وویل، (99) پروژې د مهندسۍ او انجنیرۍ نقشو له مخې براورد شوي، د شپږ ولایتونو(میدان وردگ، پکتیکا، خوست، لوگر، کندهار او زابل) لپاره د ساختماني شبکاتو د پلان طرح او ډیزاین شوی او د امارتي تصدیو اړوند د (1620) تعمیرونو قیمت گذاري شوې ده.

د نوموړي په خبره، (750) کسانو ته یې په مناسب بستونه کې دنده ورکړې، (454) د وزارت کارکوونکو ته یې په کور دننه او بهر د لوړو زده کړو زمینه برابره کړې او دغه راز یې، د ځینو هېوادونو له سفیرانو او چارسمبالو سره په ناستو کې له هغوی غوښتي چې د منظمې ښاري ودې او پراختیا، زیربناء ، مسکن او نورو برخو کې خپل پانگوال په افغانستان کې پانگونې ته وهڅوي.



# هیئت مشترک به ریاست شیخ حمدالله نعمانی به ولایت بلخ سفر کرد

هیئت مشترک به سرپرستی محترم شیخ حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن و نمایندگان وزارت‌های امور داخله، زراعت، آبیاری و مالداری و ریاست عمومی نظارت و استخبارات به ولایت بلخ سفر کردند.

این سفر به هدف تطبیق حکم شماره (709) مقام محترم ریاست الوزرا انجام شد.

محترم شیخ حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن در ابتدا، با محترم مولوی نورالهادی ابوادریس معاون والی بلخ، محترم حافظ محمد موسی مبین رییس زراعت و محترم مولوی محمد نسیم عابد معاون و انجنیران شاروالی این ولایت دیدار کرد.

در این دیدار، وضعیت زمین و اسناد شهرک‌های شهر بلخ مورد بحث و بررسی قرار گرفت و دلایل ارایه گردید. هدف این است که مشکلات شهرک‌ها در شهر بلخ و مشکلات مردم عادی در ولایت بلخ حل گردد و حق به حقدار برسد.



# په نوي کابل ښار کې د آبادۍ چارې په چټکۍ روانې دي

د کور او ښار جوړولو وزارت اړوند د نوي کابل ښار د پراختیا ریاست محترم رئیس انجنیر اقبال میرزاده وایي، تخنیکي او مسلکي تیم یې په نوي کابل ښار کې په دوامداره توګه له ودانیزو چارو څارنه کوي.

ښاغلی انجنیر اقبال میرزاده وایي، د نوي کابل ښار د لومړي فاز په (ب) برخه کې د خاور ساختماني شرکت له لوري ترسره کېدونکې ودانیزې چارې په چټکۍ روانې دي چې دوی یې له چارو څارنه کوي. د نوموړي په خبره، دمګړۍ په یاده سیمه کې د ۵ هستوګنیزو پنځه پوړیزو بلاکونو، دوه هستوګنیز ۲ او ۳ پوړیزو ساختمانونو، د یو مسجد شریف، د هستوګنیزو نمرو احاطې، د سړکونو غاړو ته د ویالو جوړولو او څراغونو نصبولو لړۍ روانې دي. دغه راز، د درې سوه جریبه نورې ځمکې ګرېډینګ او هوارولو چارې روانې دي، تر څو په کې پلان پلي شي او په وینا یې په همدې موخه یاده ساحه کې د سړکونو غځولو په پار خط اچونه روانه ده. د کور او ښار جوړولو وزارت هڅې پیل کړي، چې په نوي کابل ښار کې ودانیزې چارې لا چټکې شي، تر څو په سرپناه او ښاري برخو کې درنو هېوادوالو ته ګڼې اسانتیاوې رامنځته شي.



# در مورد سرمایه‌گذاری در زون‌های اقتصادی صحبت شد

با تأمین امنیت سراسری و فراهم شدن بستر سرمایه گذاری، تمامی سرمایه گذاران داخلی و خارجی می‌توانند در بخش‌های مختلف افغانستان به ویژه در بخش سرپناه، شهرک‌ها، توسعه شهری و زون‌های اقتصادی سرمایه‌گذاری کنند.

ریاست انکشاف زون‌های اقتصادی وزارت شهرسازی و مسکن گفت که به همراه تیم تخنیکی اش با تعدادی از سرمایه‌گذاران دیدار و گفتگو کرد.

در این دیدار با تعدادی از سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی در رابطه به سرمایه‌گذاری و فعالیت های اقتصادی گفتگوصورت گرفت.

ریاست مذکور با بیان اینکه در خصوص پروژه‌های زون اقتصادی، زراعتی باریک آب و شهرک مسکونی پیروزی تمامی امکانات، پیشنهادات و مساحت را به تفصیل برای سرمایه‌گذاران تشریح کرد.

سرمایه‌گذاران یادآورشدند که پس از مشوره با همکاران شان، کار روی پروژه‌ها را آغاز خواهند کرد.

وزارت شهرسازی و مسکن از همه سرمایه‌گذاران و تجاران می‌خواهد که در بخش مسکن، شهرک‌ها و توسعه منظم شهری سرمایه‌گذاری کنند که این وزارت کاملاً از آن حمایت می‌کند.



# په ننگرهار ولایت کې په کوردننه بیځایه شوو کورنیو لپاره ښارگوټی جوړیږي

د کور او ښار جوړولو له وزارت تللي هئیت د ننگرهار ولایت د کور او ښار جوړولو ریاست د محترم رئیس قاري محمد نبي سعید او د نورو اړوندو انجنیرانو سره وکتل او د دوی په شتون کې یې د دې ولایت په سرخرود او چپرهار ولسوالیو کې په کور دننه د بیځایه شوو کورنیو لپاره د ښار گوټي د جوړېدو په موخه د ساحې ځخه لیدنه وکړه او توپوگرافي سروې یې تر سره کړه.

د ننگرهار ولایت د کور او ښار جوړولو ریاست محترم رئیس قاري محمد نبي سعید وایي، د راغلي هئیت سره یې په گډه په سرخرود او چپرهار ولسوالیو کې په کور دننه د بیځایه شوو کورنیو لپاره د ښار گوټي جوړېدو په موخه د سیمې ځخه لیدنه وکړه، د گیلاني د ښارگوټي په گډون یې 10640 جریبه ځمکې توپوگرافي سروې بشپړه کړه او د تفصیلي پلان د جوړېدو په موخه یې ټول معلومات مرکز کابل ته واستول شو.

د کور او ښار جوړولو وزارت د خپلو دندو پر وړاندې ځان مسؤل گڼي او هڅې کوي چې ورسپارل شوې دندې او مسؤلیتونه په خپل وخت او سمه توگه سرته ورسوي

# در مورد پروژه‌های نیمه‌کاره وزارت معارف صحبت شد



محترم الحاج شیخ حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن با محترم مولوی صبغت الله وصیل معین اداری وزارت معارف و هیئت همراه آن در دفتر کارش دیدار و گفتگو کرد. در این دیدار درمورد پروژه‌های نیمه‌کاره و ترمیم برخی پروژه‌های تعمیراتی، ساختمانی مربوط به وزارت معارف، بحث و تبادل نظر شد.

محترم معین وزارت معارف، مشکلات شان را در مورد پروژه‌های نیمه کاره این وزارت که در کابل و ولایات که با مشکل مواجه هستند، بیان نمود.

سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن در مورد پروژه‌ها معلومات جامع را شریک ساخت و افزود که در صورت اختصاص بودجه برای تکمیل کارهای باقی مانده مکاتب، انجنیران و تیم‌های تخنیکی این وزارت به طور کامل آماده خواهد شد که به‌زودی کارها را تکمیل و به بهره‌برداری برسد.

آقای نعمانی گفت، وزارت معارف می‌تواند در ترمیم تعمیرهای که قسما تخریب شده، دست به کار شود و همچنین می‌تواند بودجه اختصاص یافته برای مکاتب را به وزارت شهرسازی و مسکن انتقال دهد که مکاتب نیمه‌کاره را تکمیل کند.

وزارت شهرسازی و مسکن آمادگی دارد تا در صورت وجود بودجه کافی، تمام پروژه‌های نیمه‌کاره را تکمیل و به بهره‌برداری برساند.

# د کور او ښار جوړولو وزیر، افغانستان لپاره د اغاخان بنسټ له مسؤل سره وکتل

د کور او ښار جوړلوو وزارت محترم سرپرست وزیر الحاج شیخ حمدالله نعماني، د افغانستان لپاره د اغا خان بنسټ له مسؤل محترم ډاکتر نجم الدین سره وکتل او په یو شمېر موضوعاتو یې خبرې وکړې. په ناسته کې لومړی، افغانستان لپاره د اغا خان بنسټ مسؤل ښاغلي ډاکتر نجم الدین د یاد بنسټ د فعالیتونو، لاسته راوړنو او راتلونکو پلانونو په اړه معلومات وړاندې کړل. وروسته د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزیر الحاج شیخ حمدالله نعماني د یاد بنسټ د فعالیتونو د لا پیاوړتیا، او اغېزمن فعالیت په موخه یو شمېر وړاندیزونه وکړل او غوښتنه یې وکړه، چې د کور او ښار جوړولو وزارت سره همکار پاتې شي. ښاغلي وزیر له افغانانو سره د اغا خان بنسټ له مرستو مننه وکړه، او زیاته یې کړه، اړتیا ده چې یاد بنسټ د وروستیو سیلابونو او طبعي پېښو له امله زیانمنو کورنیو سره د همکارۍ په موخه لاس په کار شي او د هغې کمېټې سره د سروې او نورو پایلو د شریکو او ترسره کولو برخه کې همکاري وکړي، چې د ا.ا.ا د ریاسة الوزرا محترم عالي مقام له لوري رامنځته شوې، تر څو زیانمنو کورنیو سره د واحدې منبع له لارې مرسته وشي. افغانستان لپاره د اغاخان بنسټ مسؤل ښاغلي ډاکتر نجم الدین ژمنه وکړه، چې په یادو برخو کې به تر خپلې وسې همکاري کوي او په ځینو برخو کې د دوی له لوري د ترسره شوو سروې ګانو موندنې به له کمېټې سره شریکوي.

نوموړي وویل، په بېلا بېلو برخو کې له افغانانو سره مرستې کوي او دغې چارې ته به دوام او پراختیا ورکوي.

نجم الدین وویل، د روغتیا، خوراکي او نورو برخو سربېره د تاریخي ابدو په ترمیم او ساتنې برخه کې هم کار کوي چې دغه برخه کې به د کور او ښار جوړولو وزارت سره په همغږۍ او همکارۍ چارې ترسره کړي. د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزیر وویل، بغلان، تخار او نورو ولایتونو کې چې د سیلابونو له امله کورونه په بشپړه توګه او یا هم په قسمي توګه وران شوي، اړتیا ده چې ارقام یې معلوم او د لاسنیوي په موخه یې اقدام وشي.

# هیئت مشترک برای بررسی چگونگی تطبیق پلان تفصیلی بندر تورخم به ساحه اعزام شود


محترم شیخ مدار علی کریمی بامیانی معین امورشهری وزارت شهرسازی و مسکن با نماینده وزارت محترم تجارت و صنعت در دفتر کارش جلسه کرد.

نماینده محترم وزارت تجارت و صنعت گفت، ضرورت مبرم است تا پلان تفصیلی که برای بندر تورخم ولایت ننگرهار از طرف وزارت شهرسازی و مسکن طرح و تهیه شده است، تطبیق گردد که در آن ترمینل مسافربری، ساحات تجارتی، مسجد و دیگر ساحات مورد ضرورت، مشخص شده است.

وی ابرازداشت، برخی مشکلات در ساحه وجود دارد که با اشتراک شاروالی نیاز به حل دارد و از وزارت شهرسازی و مسکن خواستار حل آن گردید.

معین امورشهری گفت، بندر تورخم یک بندر اساسی ترانزیتی کشور است که باید پلان تفصیلی آن از طرف شاروالی آن ولایت تطبیق گردد، وزارت شهرسازی و مسکن این مسئله را به شاروالی می‌سپارد و مشکلات که در ساحه مانع تطبیق پلان شود با اشتراک وزارت تجارت و صنعت بررسی می‌نماید.

معین شهری این وزارت همچنان افزود که هیئت مشترک از وزارت شهرسازی و مسکن و وزارت تجارت و صنعت به زودی به ساحه بندر تورخم اعزام گردد تا مشکلات را از نزدیک مشخص نموده و ساحه را مطابق به پلان تفصیلی بررسی کنند.




# د هرات ولایت د کشک رباط سنگي ولسوالۍ لپاره ښاري پلان جوړېږي

د هرات ولایت د کور او ښار جوړولو ریاست محترم رئیس انجنیر عبدالله اکبري وایي، د کشک رباط سنگۍ ولسوالۍ د ښاري پلان د ترتیب په موخه د دې ریاست د انجنیرانو لخوا ساحه له نږدې ولیدل شوه.

ښاغلي انجنیر اکبري وویل، د اړتیاو د پېژندلو او په ساحه کې د ګوابنونو د معلومولو وروسته په ډاکه شوه چې د دې ولسوالۍ لپاره دې درې ډوله پلانونه( ماستر پلان، تفصیلي پلان او د بیا رغونې پلان) ترتیب شي، چې په لومړي سرکې به د دې ساحې توپوګرافي سروې تر سره شي.

د کور او ښار جوړولو وزارت د ښاري پراختیا په موخه د ولسوالیو لپاره پلانونه ترتیبوي تر څو ښاري وده د پلان مطابق په منظم ډول تر سره شي.






# وزارت شهرسازی و مسکن مالک تمام شهرها است

محترم الحاج شیخ حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن با کارمندان ریاست شهرسازی و مسکن ولایت بلخ دیدار کرد.

محترم مولوی عین الدین حامد رئیس شهرسازی و مسکن ولایت بلخ و کارمندان این ریاست به وزیر خوش آمدید گفت و از فعالیت‌ها و دستاوردهای شان معلومات و گزارش کامل ارائه کردند.

سپس محترم الحاج شیخ حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن خطاب به کارمندان آن ریاست گفت که مالک شهر در هر ولایت، ریاست شهرسازی و مسکن است و باید در امور کاری خود جدیت داشته باشید.

محترم نعمانی بیان کرد، در حوزه شهرسازی و مسکن به مردم تسهیلات بدهید و خود را در پیشگاه خداوند مسئول بدانید.

وی افزود، هر دولتی باید هدف و اهمیت فلسفه وجودی خود را بشناسد و براساس آن عمل کند.

محترم نعمانی تاکید کرد که، در حفاظت از معیارها قاطعیت داشته باشند و هر جانب را در ولایت‌های خود، مجبور به رعایت معیارها کنند.

وی همچنان گفت که، از معیارهای انجنیری و شهرسازی را در هیچجا نگذرید و تا آخرین مرحله برای تطبیق آن‌ها جدی باشید.

سرپرست شهرسازی و مسکن افزود، در همه ولایات انجنیر نظارت کننده نباید نقش تماشاگر و بیننده را داشته باشد بلکه نقش یک فرد با صلاحیت و مسئول را داشته باشد. سر انجام به این نتیجه رسیدند که هرکس مسئولیت خود را به درستی انجام دهد و بر اساس ایمان و وجدان عمل نماید.

# د کور او ښار جوړولو وزیر د شهر نو ښارګوټي موجوده فزیکي وضعیت ولید




د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزیر الحاج شیخ حمدالله نعماني په مشرۍ له کابل تللي هیئت د بلخ ولایت په (۱۲) مه ناحیه کې د شهرنو هستوګنیز ښارګوټي موجوده فزیکي وضعیت له نژدې ولید. په دغه لیدنه کې، چې د استخباراتو محترم عمومي ریاست، د فرامینو او احکامو د تعقیب او څار محترم لوی ریاست، د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو محترم وزارت او د کورنیو چارو محترم وزارت، د بلخ محترمې ښاروالۍ درنو استازو او نورو اړوندو محترمو مسؤلینو او انجنیرانو یې ملتیا کوله، له بېلابېلو اړخونو سره یې خبرې وکړې او نظریات وړاندې شول.

په لیدنه کې، د یاد ښارګوټي د ځمکو اړوند یو شمېر اسناد، د ښارګوټي کروکي، او پخواني استعلامونه وکتل شول او غوښتنه وشوه چې په تړاو یې ټول اسناد راوړل شي.

د معلوماتو له مخې، د بلخ ولایت په دولسمه ناحیه کې د شهرنو په نوم هستوګنیز ښارګوټی په (۸۷۰۰) جریبه ځمکه کې جوړېږي چې ځینې لومړنۍ چارې یې ترسره شوې دي.

د یاد ښارګوټي د ځمکې د ستونزې د حل په موخه تللي هیئت تر هر اړخیزو څېړنو او موندنو وروسته، بشپړ راپور چمتو او د ریاسة الوزرا محترم عالي مقام ته وړاندې کړ.

محترم شیخ حمدالله نعماني هڅې پیل کړې چې ژر تر ژره د یاد ښارګوټي او خلکو ستونزې حل او د نورو اقداماتو په تړاو لاره لنده شي.

## جهت تسریع کار اعمار کمپلکس عزیزی نشست دایر شد

به ریاست محترم شیخ حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن کمیته اعمار کمپلکس عزیزی در کابل، نشست برگزار کرد.

در این نشست نمایندگان وزارت زراعت، آبیاری و مالداری و شاروالی کابل نیز اشتراک داشتند.

در این نشست در حالیکه نمایندگان اراضی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری نیزحضور داشت در مورد تثبیت و تفکیک ملکیت و همچنان در مورد تاخیر در کارها و چگونگی حل مشکلات، به صورت تفصیلی صحبت گردید که همه اعضای نشست نظرات خود را به اشتراک گذاشتند.

اقای نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، هیئت مشترک وزارت شهرسازی و مسکن، شاروالی کابل و نمایندگان اراضی را موظف نمود تا در اسرع وقت از ساحه بازدید و کار تثبیت و تفکیک زمین را آغاز کنند.

قابل ذکر است اینکه بنیاد خیریه عزیزی در نظردارد که در 350 جریب زمین در رحمان مینه واقع ناحیه هشتم شهر کابل، پوهنتون، شفاخانه، دارالایتام، مکتب، لیلیه و ساحه مسکونی اعمار کند.



# د کور او ښار جوړولو وزارت سرپرست
# د غور له والي سره وکتل

د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزیر الحاج شیخ حمدالله نعماني په خپل کاري دفتر کې د غور له محترم والي ملا احمد شاه دین دوست او په دغه ولایت کې د کور او ښار جوړولو له محترم رئیس مولوي غلام یحی سره وکتل. دواړو لوریو په غور ولایت کې د شته ښاري ستونزو، سرپناه برابرولو حل لارو او د پلانونو په جوړولو خبرې وکړې. د غور محترم والي ملا احمد شاه دین دوست وویل، په غور ولایت کې ډیری خلک سرپناه نه لري او اړتیا ده، چې د کور او ښار جوړولو وزارت په یاد ولایت کې د سرپناه برابرولو، ښاري پراختیا او د پلانونو په جوړولو کې همکاري وکړي.

د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزیر الحاج شیخ حمدالله نعماني وویل، لومړی به وزارت کې شته پلانونه تر نظر تېر کړي او بیا به د اړتیا له مخې د پلانونو جوړولو لپاره تابیا ونیسي. ښاغلي الحاج شیخ حمدالله نعماني وویل، غور ولایت کې د سرپناه برابرولو لپاره به د اړتیا له مخې مسلکي او تخنیکي ټیم دغه ولایت ته واستوي، تر څو لومړنۍ چارې ترسره او بیا د پلان جوړولو او یا عملي کولو لپاره زمینه برابره شي. نوموړي وویل، تر ممکنه بریده به هڅه وکړي چې د غور ولایت د خلکو د سرپناه نشتون ستونزه حل او د منظمې ښاري پراختیا لپاره کار وکړي.





# جهت اعمار مارکیت ذغال در ولایت سمنگان اولین جلسه دایر شد

به ریاست محترم مولوی روح الله احمدی معین مسکن، امورساختمانی و انکشاف برنامه‌های وزارت شهرسازی و مسکن برای اینکه چگونه مارکیت تخلیه و بارگیری زغال‌ها در ولایت سمنگان ساخته شود، جلسه دایر گردید.

این جلسه بر اساس دستور شماره 5966 مورخ 1444/12/04 عالیقدر امیرالمومنین شیخ القرآن و الحدیث هیبت الله آخندزاده حفظه الله و بر اساس مصوبه شماره 24 محترم کابینه تشکیل شد.

بدین ترتیب، به ریاست وزارت شهرسازی و مسکن که وزارت محترم معادن و پترولیم، وزارت محترم صنعت و تجارت، وزارت محترم ترانسپورت و هوانوردی و وزارت محترم مالداری و آبیاری اشتراک داشتند، در اولین جلسه وظایف و مسئولیت‌های هر وزارت مشخص شد.

در جلسه هریک از طرف‌ها صحبت کردند و محترم مولوی روح الله احمدی معین مسکن، امور ساختمانی و انکشاف برنامه‌های وزارت شهرسازی و مسکن گفت که هر وزارت هر چه زودتر نظریات و پیشنهادات خود را در خصوص ساختن مارکیت تخلیه و بارگیری ذغال ولایت سمنگان به اشتراک بگذارند که نتیجه روشن آن در اختیار مسوولین زیربط قرار خواهد گرفت.

# د کور او ښار جوړولو وزارت مالي او اداري مرستیال معرفي شو

د کور او ښار جوړولو وزارت د مالي او اداري مرستیال د پېژند غونډې په مراسمو کې د ۱.۱.۱ د چارو اداري محترم عمومي رئیس شیخ نورالحق انور وویل، د ۱.۱.۱ مشرتابه تل هڅه کړې چې دندې اهل کسانو ته وسپاري، تر څو چارې په سمه توګه مدیریت کړي.

ښاغلي شیخ نورالحق انور په غونډه کې د کور او ښار جوړولو وزارت د نوي مالي او اداري مرستیال د جهادي مخینې په اړه خبرې وکړې او هغه یې یو نېک، ژمن او مسلمان انسان یاد کړ، چې په خبره یې د افغانستان د استقلال لپاره یې له شوروي اتحاد سره جهاد کړی او بیا همداسې یو مبارز شخص پاتې شوی، چې تل یې د هېواد د ابادۍ او پرمختګ لپاره هڅې کړې دي. ورپسې د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزیر شیخ حمدالله نعماني خبرې وکړې او وویل، چې تغیر او تبدیل په ادارتو کې یو اصل دی چې امارت ورته ژمن دی.

ښاغلي شیخ حمدالله نعماني وویل، د کور او ښار جوړولو وزارت یو مسلکي وزارت دی چې په دوه مهمو برخو ښار جوړلوو او دولتي ساختمان برخه کې کار کوي او هڅه کوي چې منظمه ښاري وده او پراختیا رامنځته کړي او دغه چاره انکشاف، اقتصادي پرمختګ او خلکو ته د کار کولو زمینه برابروي. نوموړي وویل، د ښاري چارو په برخه کې د دغه وزارت مرستیال شیخ مدارعلي کریمي بامیاني صاحب دی چې په پوره اخلاص او صداقت کار کوي او په خبره یې بله برخه د مسکن او ساختماني چارو ده چې محترم مولوي صاحب روح الله احمدي یې مسؤلیت پر مخ وړي او د چارو مدیریت یې کوي. د هغه په خبره، د دې دواړو معینیتونو ترمنځ د پُل په توګه د مالي او ادارو چارو معینیت دی چې د نوي مرستیال په معرفي کېدو سره به یې چارې لا ګړندۍ شي.

ښاغلي نعماني نوي مالي او اداري مرستیال ته د ښه راغلاست او مبارکۍ تر څنګ وویل، باور لري چې نوی مالي او اداري مرستیال به ورسپارل شوې چارې په سمه توګه مدیریت کړي او په ورسپارل شوو چارو کې یې ورته له خدایه د توفیق غوښتنه وکړه.

ورپسې د کور او ښار جوړولو وزارت نوي مالي او اداري مرستیال محترم حاجي محمد ارسلاح خروټي خبرې وکړې او د ۱.۱.۱ له مشرتابه یې مننه وکړه چې پر ده یې باور وکړ.

ښاغلي حاجي محمد ارسلاح خروټي ډاډ څرګند کړ، چې ورسپارل شوی مسؤلیت به د قانون او اصولو په چوکاټ کې پر مخ وړي، چارې به مدیریت کوي او د ورورۍ او همکارۍ په فضاء کې به پرمختګ کوي.

د کور او ښار جوړولو وزارت لپاره محترم حاجي محمد ارسلاح خروټي د نوي مرستیال په توګه د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمان له مخې مقرر او رسماً یې کار پیل کړ.



# د مسکن، ودانیزو چارو او د برنامو پراختیا لپاره نوی مرستیال معرفي شو

د عالیقدر امیر المؤمنین شیخ القران والحدیث هبة الله اخندزاده حفظه الله د حکم پر اساس د کور او ښار جوړولو وزارت د مسکن، ودانیزو چارو او برنامو پراختیا معینیت لپاره محترم الحاج محمد اسماعیل فائز د نوي مرستیال په توګه معرفي شو.

د نوي مرستیال د پېژند غونډې په مراسمو کې لومړی د ا.ا.ا د چارو ادارې د عمومي ریاست د پالیسی محترم مرستیال مولوي عبدالباري عاطف د یادې ګمارنې په تړاو د د عالیقدر امیر المؤمنین شیخ القران والحدیث هبة الله اخندزاده حفظه الله د حکم بیان وکړ.

ورپسې د کور او ښار جوړولو وزارت د مسکن، ودانیزو چارو او د برنامو پراختیا محترم مخکیني مرستیال مولوي روح الله احمدي وویل، په اداراتو کې تغیر او تبدیل یو اصل دی، چې د امارت هر وګړی ورته ژمن دی اطاعت یې کوي او دی هم ورته لبیک وایي.

ښاغلي مولوي احمدي وویل، د امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم عملي کول پر ځان واجب ګڼي او له خپلو ټولو مخکیني همکارانو یې غوښتنه وکړه چې له نوي معرفي شوي مرستیال سره بشپړه همکاري وکړي او چارې په ایمانداری او صداقت پر مخ یوسي. د خبرو په دوام، د دغه وزارت مالي او اداري مرستیال محترم حاجي محمد ارسلاح خروټي وویل، دا هېواد جګړو او بې عدالتیو ځپلي او کار غواړي چې اباد او سوکاله شي.

نوموړي وویل، ټول باید نظام ته مخلصانه کار وکړي او په چارو کې یو له بل سره همکار پاتې شي. په دغه مراسمو کې، د مسکن، ودانیزو چارو او د برنامو د پراختیا مرستیال الحاج محمد اسماعیل فائز وویل، ورسپارل شوې دنده یو ستر مسؤلیت دی چې هڅه به وکړي، تر څو یې په سمه توګه اداء کړي. نوموړي د وزارت له ټولو کار کوونکو غوښتنه وکړه چې په چارو کې ورسره همکاري وکړي او د ښه پرمختګ برخه کې لاس ورکړي. هغه داډ څرګند کړ، چې د وزارت محترم مقام او نورو متخصص کادرونو سره په مشورې به چارې پر مخ وړي. د پېژند غونډې په لړ کې، د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزیر الحاج شیخ حمدالله نعماني وویل، دا نظام بقاء او اغېزمن دوام ته اړتیا لري او باید هر وګړی ورته ژمن پاتې شي.

ښاغلي شیخ حمدالله نعماني وویل، دوی او د امارت ټول وګړي په افغانستان کې د امارت له بیا حاکمیت مخکې په سختو شرایطو، قربانیو او د ستونزو په مهال مطیع او ژمن پاتې شوي او دغه چارې ته دوام ورکوي، چې په خبره یې ټول باید دې نظام ته ژمن پاتې شي او د دوام لپاره یې کار وکړي. نوموړي وویل، د کور او ښار جوړولو وزارت یو مسلکي وزارت دی، چې په کې تر ډېره پوهان، مسلکي او متخصص کادرونه دي او هیله یې وښوده چې د همکارۍ او مشورو له مخې یو له بل سره همکار پاتې شي او د پرمختللي افغانستان لپاره کار وکړي.



# د پکتیکا ولایت د اورګون ولسوالۍ او مرکز ښرنې لپاره تفصیلي پلان جوړ شو

د کور او ښار جوړولو وزارت هڅې پیل کړې چې د هېواد په کچه ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د غیر پلاني او خپل سرې ودې او پراختیا مخنیوی وکړي.

د پورته ذکر شوې موخې ترلاسه کولو لپاره پلان دی چې د نویو بازارونو سروې او په هر ولایت کې د څو ولسوالیو لپاره ستراتېژیک / تفصیلي پلانونه جوړ شي.

د همدغې هڅې په لړ کې، دا دی د پکتیکا ولایت د اورګون ولسوالۍ، د پکتیکا پوهنتون او د مرکز ښرنې ښار لپاره تفصیلي پلانونه جوړ او تائید شول.

د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزیر الحاج شیخ حمدالله نعماني وایي، د دې او دېته ورته پلانونو په جوړېدو سره به په بازارونو او ولسوالیو کې د غیر پلاني او خپل سرې ودې او پراختیا مخنیوی وشي.

ښاغلی نعماني وایي، د دې پلانونو په تطبیق سره به د یادې ولسوالۍ او مرکز ښرنې اوسېدونکي له منظمې ښاري ودې او پراختیا څخه برخمن شي او پانګوال به په ډاډه زړه پانګونه وکړي.

د کور او ښار جوړولو وزارت هڅې کوي چې تر ممکنه بریده په هېواد کې د غیرمنظمې، خپل سرې او غیر پلاني ودې او پراختیا مخنیوی وکړي او خلک له ښاري امتیازاتو برخمن کړي.



# برای چهار ولسوالی قندهار پلان تفصیلی طرح و ترتیب شد

وزارت شهرسازی و مسکن تلاش‌های خود را برای جلوگیری از رشد و انکشاف غیرپلانی و خودسر شهری در تمام ولایات و ولسوالی‌های کشور آغاز کرده است.

برای دستیابی به هدف فوق، برنامه‌ریزی شده است تا بازارهای جدید سروی شود و پلان‌های استراتژیک / تفصیلی شهری برای چند ولسوالی در هر ولایت طرح و ترتیب شود.

به عنوان بخشی از این تلاش، پلان‌های تفصیلی منظم برای چهار ولسوالی ولایت قندهار تهیه و تأیید شد.

ریاست ماسترپلان و پلان‌های تفصیلی وزارت شهرسازی و مسکن، پلان‌های تفصیلی ولسوالی‌های (غورک، شاولی‌کوت علیا، شاولی‌کوت سفلی، میوند سفلی) قندهار را تهیه کرده و جهت تأیید رسما امضاء گردید و برای ریاست شهرسازی و مسکن ولایت مذکور سپرده شد.

محترم الحاج شیخ حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن می‌گوید که با تهیه این پلان‌ها و مانند آن از رشد و انکشاف غیرپلانی و خودسر در شهرها و ولسوالی‌ها جلوگیری می‌گردد.

محترم نعمانی گفت، با تطبیق این پلان‌های شهری، باشندگان این ولسوالی‌ها از رشد و توسعه منظم شهری بهره‌مند شده و سرمایه‌گذاران با اطمینان سرمایه‌گذاری خواهند کرد.

وزارت شهرسازی و مسکن در تلاش است تا حد امکان از رشد و انکشاف غیرپلانی، خودسرانه و بدون پلان شهری در کشور جلوگیری کرده و مردم را از امتیازات شهری برخوردار سازد.



# د مسکن د وجهي صندق د مادو د غني کولو په موخه مشورتي ناسته وشوه

د کور او ښار جوړولو وزارت د مالي او اداري معین محترم محمد ارسلاح خروټي په مشرۍ د مسکن د وجهي صندق د اساس نامې د مادو په اړه مشورتي ناسته و شوه چې په دې اړه نظرونه شریک شول.

ښاغلي خروټي وویل، د مسکن لپاره د وجهي صندق موضوع له مهمو موضوعاتو څخه ده، ټینګار یې وکړ، چې د وجهي صندق د مادو غني کولو ته باید جدي پاملرنه وشي، ځکه چې د دې له مخې به ګټورې پریکړې کیږي او همدراز به په راتلونکي کې د مسکن په برخه کې ښه جواب ویونکی وي.

په دې ناسته کې ګډونوالو د مسکن د وجهي صندق پر مادو خپل نظرونه شریک کړل، زیاته یې کړه چې د دې اساس نامې د مخ لیکل دې یو ځل بیا اړوندو ریاستونو ته واستول شي، تر څو خپل نظرونه شریک او ټول معلومات دې بلې غونډې ته د وروستۍ پریکړې لپاره راوړل شي.

د یادولو ده، چې د مسکن د ملي وجهي صندق د اساس نامې جوړول د مسکن په برخه کې ډیر ګټور تمامیږي چې د مسکن جوړولو، د بیځایه شوو او بیرته راستنېدونکو کډوالو، د مسکن په برخه د خرڅلاو د حیف اومیل کولو او د پانګوالو په هڅونه کې ډیر ګټور تمامیږي.



## از تخلفات شهری در ولایت غزنی جلوگیری شد

محترم مولوی نورولی بلال متقی رییس شهرسازی و مسکن ولایت غزنی می‌گوید که تیم تخلفات شهری این ریاست از ساخت و ساز برخی ساختمان‌ها در پلان دوم و سوم شهر غزنی نظارت نموده است.

محترم مولوی متقی گفت، در ساحه پلان دوم مربوط به شهر غزنی، کار ساخت و ساز ساختمان مسکونی به منظور جلوگیری از تخلفات شهری نظارت شد، همچنان کار ساختمان تخریب شده مربوط به ریاست برق این ولایت از نزدیک بازدید گردید و از ساخت‌وساز های جدید از ادارات مربوطه درخواست شد تا پس از تکمیل اسناد، بر اساس نقشه اعمار گردد.

تیم های مرکزی و ولایتی وزارت شهرسازی و مسکن پروژه های ساختمانی را به دقت نظارت می‌کنند تا از تخلفات شهری جلوگیری گردد.



## کار ترمیم شفاخانه جمهوریت بررسی شد



محترم الحاج محمد اسماعیل فایز معین مسکن، امور ساختمانی و انکشاف برنامه‌های وزارت شهرسازی و مسکن با تعداد از رؤسا و کارمندان این وزارت، کار ترمیم شفاخانه جمهوریت را بررسی کرد.

محترم الحاج محمد اسماعیل فایز از بسترخانه مریضان، اطاق عملیات، اطاق پایوازان، دهلیزها، پارکنگ موتر و از بخش‌های دیگر این شفاخانه، نیز بازدید نمود.

محترم اسماعیل فایز افزود، شفاخانه یکی از نیازمندی‌های اساسی است که به ساخت و ساز آن، باید توجه جدی شود تا از لحاظ صحی به مشکلات مردم رسیدگی صورت‌گیرد. وی از مسوولان شرکت قراردادی خواست تا کار مطابق قرارداد و پلان در زمان معین آن به اتمام برسد.

قابل ذکر است که کار ترمیم این شفاخانه تقریبا ۳۰ درصد پیشرفته است.

## کندز ولایت کې د سپین زر دولتي شرکت د ځمکو سکېچ او کروکي ترسره شو

کندز ولایت کې د کور او ښار جوړولو ریاست محترم رئیس مولوي محمد رمضان کلیم وایي، د دغه ولایت په امام صاحب ولسوالۍ کې یې د سپین زر دولتي شرکت د ځمکو معلومولو او تشخیص په موخه اقدام وکړ.

ښاغلی مولوي محمد رمضان کلیم وایي، تخنیکي ټیم یې د یادو ځمکو لپاره سکېچ او کروکي کوي او موقعیت به یې معلوم کړي. تللی تخنیکي ټیم به د کار په پای کې بشپړ راپور په کندز ولایت کې د کور او ښار جوړولو له محترم ریاست سره شریک کړي او له هغې وروسته به لازم اقدامات ترسره شي. د یو بل خبر له مخې، په کندز ولایت کې د کور او ښار جوړولو ریاست تخنیکي اومسلکي ټیم د دغه ولایت د پوهنتون اړوند درې ګونې



ودانیو د ترمیم په موخه لومړنی براورد ترسره کړ. د کور او ښار جوړولو وزارت د ځمکو د سکېچ او کروکي ترځنګ د ودانیزو چارو لپاره د لګښتونو دقیق براورد هم کوي.

## د پل علم ښار د یو باب مسجد شریف انجنیري نقشه طرحه او ډیزاین شوه



د لوګر ولایت د کور او ښار جوړولو ریاست محترم رئیس مولوي مطیع الله زاهد وایي، د دي ریاست تخنیکي ټیم د پل عالم ښار د یو باب مسجد شریف انجنیري نقشه طرحه او ډیزاین کړه. یاده نقشه په معیاري ډول جوړه شوې، چې دحجم اندازه، سایت پلان او چاردیوالي او نور ټول جزیات یې په نظر کې نیول شوي دي.

د کور او ښار جوړولو وزارت د دولتي ادارو په غوښتنه د دولتي ادارو د تعمیرونو نقشې ډیزاین کوي وروسته یې دوی ته په اختیار کې ورکوي.

## کار ساخت و ساز کلینیک صحی در ولایت سمنگان تکمیل شد

محترم مولوی محمدامین نوری رییس شهرسازی و مسکن ولایت سمنگان گفت که با اشتراک تیم انجنیری و مهندسی این ریاست از پروژه ساختمانی کلینیک صحی قریه‌جات تیخونک بازدید نمود.



مولوی نوری بیان داشت، کلینیک مذکور در مرکز شهر ایبک قرار دارد که کار قبلا آغاز شده بود اما به دلیل مشکلاتی متوقف گردیده بود و با تلاش این ریاست کار دوباره شروع شد که اکنون ساخت و ساز این کلینیک صحی به پایان رسیده است.

محترم نوری افزود که مردم منطقه از خدمات صحی محروم و با مشکلات فراوانی مواجه بوده اند، لذا مهم بود که کلینیک مذکور به اسرع وقت به ریاست صحت عامه تسلیم داده شود.

تیم های تخنیکی وزارت شهرسازی و مسکن از ساخت و ساز پروژه ها نظارت می کنند تا پروژه ها طبق برنامه و معیاری تکمیل شود.

## از درس‌های فقهی و عقیدتی امتحان اخذ شد

ریاست دعوت و ارشاد وزارت شهرسازی و مسکن، از کارمندان این وزارت از دروس فقهی و عقیدتی امتحان کتبی اخذ کرد.


محترم مفتی عبدالاحد حقانی رییس دعوت و ارشاد گفت، در سه سال گذشته به کارمندان این وزارت دروس فقهی و عقیدتی تدریس شد که باعث افزایش آگاهی کارکنان نسبت به مسائل اسلامی شده که در امور زندگی عملی می‌نماید و در این عرصه بهبودی قابل توجهی حاصل گردیده است.

قابل یادآوری است که یک سلسله دروس فقهی و عقیدتی به طور منظم توسط مدرسان دعوت و ارشاد برای کارکنان این وزارت تدریس می‌شود.



## د کور او ښار جوړولو وزارت د اپارتمانونو د کرايې ورکونې طرزالعمل جوړوي

د کور او ښار جوړولو وزارت د ښاري چارو محترم مرستيال شيخ مدار علي کريمي باميانی په مشرۍ د تقنيني اسنادو د بيا کتنې کمېټې په څو بېلابېلو موضوع ګانو خبرې وکړې. په لومړي سر کې د اپارتمانونو د کرايې ورکولو په اړه د رياست الوزرا د محترم مقام د حکم په اړه خبرې وشوې او نظرونه شريک شول، پرېکړه وشوه چې د اپارتمانونو د کرايې ورکولو په اړه يو طرز العمل جوړ شي وروسته به د رياست الوزرا محترم عالي مقام ته وړاندې شي. په دې ناسته کې، د ښار جوړولو په قانون کې د ځينو مادو په زياتوالي خبرې وشوې، ترڅو د نورو وزارتونو يا ادارو په ځانګړې توګه د ښاروالیو سره د وظيفوي تداخل مخنيوی وشي.



د دې کيمټې غړو وويل، د ښاري تخلفاتو لپاره رسيدنه د کور او ښار جوړولو وزارت دنده ده، چې د کور او ښار جوړولو وزارت د خپلو ښاري پلانونو څارنه کوي او د هر ډول ښاري تخلفاتو مخنيوی به کوي.

## د کور او ښار جوړولو وزير د شهرنو ښارګوټي د ځمکې په تړاو له عامو معترضو خلکو سره وکتل

د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزير الحاج شيخ حمدالله نعماني په مشرۍ بلخ ولايت ته د بېلا بېلو وزارتونو او ادارو تللي هيئت په دغه ولايت کې د شهرنو ښارګوټي کې شامل ځمکو په تړاو له بېلا بېلو درې ډلې معترضو عامو خلکو سره وکتل. په دغه کتنه کې، الحاج شيخ حمدالله نعماني او ورسره تللي هيئت د ټولو راغلو خلکو نظريات او دلايل واورېدل او غوښتنه يې ترې وکړه چې د خپلې غوښتنې مطابق د ځمکې په تړاو قبالې، د ځمکو اندازه، د تصفيې اسناد، او نور معتبر اسناد له ځان سره راوړي او هيئت ته دې يې وړاندې کړي. ځينو راغلو خلکو غوښتنه درلوده، چې د دوی ځمکې دې په اصولي او قانوني توګه د يوې امارتي اداري له لوري د يو معتبر سند په بدل کې د ښارګوټي لپاره ورکړل شي او په مقابل کې دې دوی ته د موافقې له مخې بديل يا بيه ورکړل شي.

په بلخ ولايت کې د شهرنو ښارګوټي پروژه له تېر ۱۳۷۲ کال راهيسې تطبيق ته چمتو، خو په دې ۳۱ کاله کې د بېلا بېلو دلايلو او موانعو له امله نه ده عملي شوې.

اوسمهال د ا.ا.ا هڅې پيل کړي چې په تړاو يې د خلکو او ښارګوټي شته ستونزې حل، موانع لېرې او د عملي کولو لپاره يې زمينه برابره شي.

د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزير الحاج شيخ حمدالله نعماني وايي، په دې لټه کې دی چې د حقيقت په درک کولو د خلکو او ښارګوټي حقوق خوندي کړي او په راتلونکې کې يو د بل پر حقوقو تېری ونه کړي.

د ټولو اړخونو د اسنادو تر کتنې او څېړنې وروسته به بشپړ راپور چمتو او د ا.ا.ا د رياسة الوزرا محترم عالي مقام ته وړاندې شي.

## در مورد پلان بهسازی ساحه زرگران بامیان صحبت شد

محترم شیخ مدارعلی کریمی بامیانی معین امورشهری وزارت شهرسازی و مسکن با محترم انجنیر امان‌الله امان رییس شهرسازی و مسکن ولایت بامیان و محترم مولوی روزی محمد افکار شاروال آن ولایت در دفتر کارش دیدار کرد. در این دیدار در مورد پلان بهسازی ساحه زرگران ولایت بامیان گفتگو و تبادل نظر شد. پس از صحبت‌ها و بحث همه جانبه، تصمیم گرفته شد که وزارت شهرسازی و مسکن پلان اولیه طرح شده توسط پوهنتون فلورانس را مطالعه نماید، پیشنهادات و تجربیات خود را با آن‌ها شریک و به شکل یک چارچوب ترتیب و تنظیم کند.

آقای بامیانی به محترم شاروال بامیان گفت که مشخص کردن هویت حقوقی زمین مربوط به ادارات زیربط درخواست و سفارش دهنده است که باید توسط شاروالی بامیان رسیدگی گردد.

وی علاوه براین، ریاست‌های زیربط وزارت شهرسازی و مسکن را موظف کرد تا برای پلان بهسازی دست به کار شوند.

پوهنتون فلورانس ایتالیا در نظر دارد که 100 خانه برای خانواده‌های ساکن در غارهای ولایت بامیان و همچنین پلان بهسازی را برای ساحه زرگران تهیه و اجرا نماید که تمام هزینه‌های آن را به عهده گرفته است.

## از وضعیت امور کار عملی شهرک های مسکونی قطر و نیله باغ بازدید شد

الحاج محمد اسماعیل فائز، معین مسکن، امور ساختمانی و انکشاف برنامه ها وزارت شهرسازی و مسکن از وضعیت امور کار عملی پروژه های مسکن نیله باغ و قطر بازدید کرد.

در این بازدید مسئول پروژه قطر و نیله باغ انجنیرعبدالوهاب صدیقی و سایر کارمندان تخنیکی و مسلکی این وزارت دیدار کرد، آقای فایز از نزدیک به نقاط مختلف این دو شهرک نگاه کرد و دستورات لازم را به مسؤلین و انجنیران پروژه داد.

آقای فائز افزود که کار انکشافی هر دو پروژه راضی کننده است و مسئولان را به تسریع در تکمیل این پروژه ها تشویق کرد.

وزارت شهرسازی و مسکن از تمامی پروژه های دولتی و خصوصی بازدید می کند تا کارها بر اساس پلان ونقشه و معیار انجام شود.




# کاربرد جی آی اس در شهرسازی و مدیریت شهری

انجنیر احمد رضایی




## چکیده

جی آی اس (Geographic Information System) یک ابزار قدرتمند در زمینه شهرسازی و مدیریت شهری است. این تکنالوژی امکان جمع‌آوری، ذخیره، پردازش و تحلیل داده‌های مکانی را فراهم می‌کند که به طور گسترده در برنامه‌ریزی و مدیریت شهری کاربرد دارد. در حوزه شهرسازی، جی آی اس می‌تواند در طراحی و برنامه‌ریزی نوع استفاده زمین، مدیریت منابع و زیرساخت‌های شهری، ارزیابی ریسک و آسیب پذیری شهری، تحلیل جمعیت و سکونتگاه‌ها و همچنین مدیریت ترانسپورت و ترافیک شهری نقش مؤثری ایفا کند. امکان تجسم و مدل‌سازی




سه بعدی شهر با استفاده از جی آی اس، طراحان شهری را در فهم بهتر محیط و ارتقای کیفیت طرح‌های شهری یاری می‌دهد. در حوزه مدیریت شهری، جی آی اس کاربردهای گسترده‌ی همچون مدیریت داده‌های شهری، نظارت بر عملکرد خدمات شهری، برنامه‌ریزی و تخصیص منابع، پایش محیطی و مدیریت بحران دارد. این تکنالوژی به مدیران شهری امکان می دهد تا با تجزیه و تحلیل داده های مکانی، تصمیم‌گیری‌های آگاهانه‌تری را در خصوص مسائل شهری اتخاذ کنند. در مجموع، جی آی اس با ارائه ابزارهای پیشرفته تحلیلی و امکان یکپارچه سازی اطلاعات مکانی، نقش محوری در ارتقای کیفیت برنامه‌ریزی، طراحی و مدیریت شهری ایفا می کند. کاربرد گسترده این تکنالوژی در شهرهای پیشرفته جهان، پتانسیل آن را در بهبود زندگی شهروندان به خوبی نشان می‌دهد.

## مقدمه

اطلاعات مکانی (GIS) چارچوب‌های کامپیوتری هستند که به طور گسترده برای ذخیره، تحلیل و مدیریت معلومات مکانی و جغرافیایی استفاده می‌شوند. این تکنالوژی نوظهور در چند دهه گذشته به سرعت رشد کرده و امروزه به عنوان ابزار اساسی برای استفاده موثر از معلومات مکانی شناخته می‌شود. درک بهتر مدیران، تصمیم گیرندگان و کاربران نهایی این چارچوب‌ها امری ضروری است تا بتوانند به طور بهتر و مناسب از GIS برای بهبود کمی و کیفی عملکرد استفاده کنند.

## چارچوب های معلومات مکانی

به طور کلی، یک چارچوب معلومات مکانی برای جمع‌آوری، ذخیره سازی، مدیریت و تحلیل اطلاعاتی که موقعیت جغرافیایی آن‌ها ویژگی اصلی و مهم است استفاده می‌شود. این داده‌ها می‌توانند در قالب‌های مختلفی ارائه شوند، از جمله نقشه‌ها، جداول اطلاعات، پایگاه معلومات مکانی و سوابق نام‌ها یا آدرس‌ها. یک چارچوب معلومات مکانی معمولاً شامل ابزارهایی برای ورود داده‌ها، ذخیره سازی در پایگاه معلومات مکانی، تحلیل فضایی و ارائه نتایج به کاربران است. این چارچوب‌ها می‌توانند به طور خودکار توابع مختلفی مانند جستجو، مسیریابی، تحلیل مکانی و تولید نقشه‌ها را انجام دهند.



## کاربردهای شهری GIS

بیشتر معلومات مورد نیاز مناطق شهری مربوط به ویژگی‌های مکانی خاص است، مانند معلومات مربوط به محدوده‌های شهری، ساحات عمومی، سرک‌ها، مکاتب و پارک‌ها. متأسفانه، تا به حال پروسه استفاده از GIS در پلان‌گذاری شهری بسیار کند بوده است.

کاربردهای شهری GIS شامل جمع آوری، بروزرسانی، پردازش و توزیع اطلاعات مربوط به زمین شهری به طور موثر است. معلومات مکانی شهری برای تصمیم‌گیری‌های اقتصادی، قانونی و سایر فعالیت‌های برنامه‌ریزی استفاده می‌شوند. معلوماتی که به طور ویژه به برنامه‌های شهری و کدستری اختصاص داده شده اند، GIS (سیستم اطلاعات زمین) نامیده می‌شوند. به عنوان مثال، معلومات مکانی که در شهرهای پیشرفته ایجاد شده اند در زمینه‌هایی مانند مدیریت املاک و دارایی، مجوزهای ساختمانی، برنامه ریزی محلی، تحلیل ترانسپورت، تعیین مسیر بهتر و مناسب برای وسایط نقلیه مانند آمبولانس‌ها، طراحی مسائل مانند سیستم‌های آبرسانی و کانالیزاسیون و سایر زیرساخت‌های شهری، برنامه‌ریزی نوع استفاده از زمین، تعیین محل دفن زباله، مدیریت پارکینگ و غیره مورد استفاده مدیران قرار گرفته اند.

این کاربردهای مختلف نشان می‌دهد که GIS می‌تواند به عنوان ابزاری قدرتمند برای مدیران شهری عمل کند. با امکان تجسیم معلومات مکانی و انجام تحلیل های پیچیده، GIS می‌تواند به بهبود پروسه‌های تصمیم‌گیری و برنامه‌ریزی در سطح شهری کمک کند.

## مزایای استفاده از GIS در مناطق شهری

استفاده از GIS در مناطق شهری دارای مزایای متعددی است:

1. افزایش کارایی و بهره وری: GIS می تواند اطلاعات مکانی را به صورت یکپارچه و موثر مدیریت کند، که منجر به افزایش بازده و بهبود پروسه‌های تصمیم‌گیری و برنامه‌ریزی می‌شود.

2. بهبود تحلیل و تصمیم‌گیری: GIS ابزارهای قدرتمندی برای انجام تحلیل‌های مکانی و فضایی ارائه می‌دهد که به مدیران شهری کمک می‌کند تصمیمات آگاهانه‌تری بگیرند.

3. ارائه خدمات بهتر به شهروندان: با استفاده از GIS، مدیران شهری می‌توانند خدمات شهری را بهبود بخشند و به شهروندان ارائه دهند. این امر شامل بهبود مدیریت امکلات عمومی، ارائه مسیریابی بهتر و مناسب و برنامه‌ریزی کاربری اراضی موثرتر است.

4. کاهش هزینه‌ها: از طریق بهبود پروسه‌ها و افزایش کارایی، استفاده از GIS در مناطق شهری می‌تواند هزینه های عملیاتی را کاهش دهد.

5. افزایش شفافیت و پاسخگویی: GIS امکان نمایش معلومات مکانی را فراهم می‌کند که به افزایش شفافیت و پاسخگویی در مدیریت شهری کمک می‌کند.



## نتیجه گیری

معلومات مرجع جغرافیایی همواره نقش مهمی در زندگی افراد داشته اند. تکنالوژی GIS می‌تواند این داده‌ها را به دست آورد و ابزارهای لازم را برای ارزیابی و برنامه‌ریزی منابع فراهم کند. روش‌های ایده‌آل ارزیابی و برنامه‌ریزی منابع تأثیر مستقیم بر مدیریت بهتر منابع و در نتیجه بهبود کیفیت زندگی ساکنین شهر دارد. در مجموع، استفاده از GIS در مناطق شهری می‌تواند به طور چشمگیری به افزایش کارایی، بهبود تصمیم‌گیری و ارائه خدمات بهتر به شهروندان کمک کند.

## منابع:


1. Longley, P. A., Goodchild, M. F., Maguire, D. J., & Rhind, D. W. (2015). Geographic Information Science and Systems. Wiley.
2. Thill, J. C. (Ed.). (2019). Advances in Geocomputation: Perspectives on GIScience in the Era of Big Data and Cyber-Infrastructure. Springer.
3. Batty, M. (2013). The New Science of Cities. MIT Press.
4. Boulos, M. N. K. (2004). Towards evidence-based, GIS-driven national spatial health information infrastructure and surveillance services in the United Kingdom. International Journal of Health Geographics, 3(1), 1-50.
5. Sharifi, A., & Yamagata, Y. (2018). Resilient urban form: a conceptual framework. Urban Science, 2(3), 48.



# د ښاري سرغړونو مخنيوي رياست؛ دندې، موخې او فعاليتونه:

انجنیر امیرداد موسی زاده ، احمد جاوید خلیلی

د ښاري سرغړونو د مخنيوي رياست د کور او ښار جوړولو وزارت د کارونو د لړيتوب په برخه کې ښاري سرغړونو مخنيوي په خاطر د طرح شوي پلان مطابق خپل فعاليتونه همغږي او تر سره کوي چې راتلونکې موضوع گانې پکې نغښتي دي.

د دې رياست اساسي دندې او موخې:

**1:** د اړوندو څانگو او نورو ادارو سره په همغږۍ د ښاري سرغړونو د مخنيوي لپاره د مقرراتو، طرزالعملونو او کاري لارښودونو ډيزاين او ترتيب؛

**2:** د ښاري پلانونو او د استوگنې د کمپلکسونو څخه د سرغړونې د مخنيوي او د ملي او نړيوالو معيارونو او مقرراتو سره سم د څارنې او تفتيش پلان جوړول؛

**3:** د منظور شويو ښاري پلانونو خلاف د ښارگوټو او د استوگنې کمپلکسونو له جوړولو مخنيوی؛

**4:** د ښاري پلان جوړولو پروسې لاندې د ناقانونه جوړولو او بدلونونو مخنيوی؛

**5:** د کور او ښار جوړولو ولايتي رياستونو او اړوندو ادارو سره په همغږۍ د ښاري تخلفاتو او استوگنې کمپلکسونو څخه د سرغړونې مخنيوي لپاره همکاري؛

**6:** د ښاري سرغړونو او قضيو پلټنه (د ښار جوړولو، ښاروالۍ او د هغې د ادعا کونکو لپاره د گډ کميسيون جوړل)؛

**7:** د اړوندو ادارو په همکارۍ په تطبيق کې د منظور شوو پلانونو تعقيب او څارنه (اصلاحي او تعديل)؛

**8:** د ځمکو د استعمال په برخه کې د خپل سرو تعدیلاتو مخنیوی؛ او

**9:** د هغو نورو اړوندو دندو اجرا کول چې د مقاماتو له خوا د قوانینو او اداري موخو سره سم د چارو د چټکتیا لپاره سپارل کېږي.

ماموریت: د نافذو قوانینو، مقرراتو، لوایحو او تخنیکي معیارونو په رڼا کې، د منظور شویو ښاري پلانونو سره سم، د کور او ښار جوړولو وزارت د موخو د تحقق او د معیاري ښارونو جوړولو لپاره، د ښارګوټو او استوګنیزو کمپلکسونو تخلفاتو ته رسیدنه.

د ښاري تخلفاتو د رسیدنې ریاست ژمن دی، چې معیاري ښارونه، په ښارګوټو کې مناسب او باکیفیته خدمات وړاندې کول، د معیارونو او پلاني ښارونو د اهمیت په اړه عامه پوهاوی او په چټکۍ سره د هغو ښاري تخلفاتو مخنیوی وکړي، چې د طرح شویو پلانونو سره په مخالفت کې وي، ترڅو خپلو ګران وطنوالو ته خدمت وکړي.

په لومړي قدم کې، تخلفات پېژندل کیږي او وروسته د نافذه قوانینو مطابق د وخت سره سم اجرأت کېږي.

فعالیتونه: د دې ریاست عمده فعالیتونه د منظور شویو ښاري پلانونو په پام کې نیولو سره په ښارونو او ښارګوټو کې د روبنایي تأسیساتو او زېربنایي شبکو د خپل سرو تغییراتو مخنیوی دی.

لاسته راوړنې: له ښاري تخلفاتو د مخنیوي ریاست؛ له رامنځته کېدو څخه تر دې دمه په دوامداره توګه نه ستړې کیدونکې هڅې کړي او د ژمنو ټیمونو په درلودلو سره، په کابل او نورو ولایتونو کې یې د ښارګوټو تخلفات پېژندلي او د متخلفینو پر وړاندې یې د قانوني موادو د تطبیق لپاره قوي اراده ښکاره کړې ده.



د بیلګې په توګه لاندې ښارګوټي یادولی شو:
خواجه رواش ښارګوټی، متحده عربی امارات ښارګوټی، خوشحال خان مېنه، پیروزي ښارګوټی، نوی کابل ښار، د تحیه مسکن بلاکونه او داسې نور ښارګوټي.
د کابل په ولسوالیو کې ترسره شوي ښاري تخلفاتو څېړنه او رسېدنه:
د کابل په ولسوالیو کې د ښاري تخلفاتو مخنیوي او د ښایسته ښارونو د رامنځته کولو په موخه یاد ریاست خپل تخصصي ټیمونه لېږلي، شته تخلفات يې په نښه کړي، چې د هېواد د نافذه قوانینو پر بنسټ ورته رسېدنه کېږي.
د کابل قره باغ او استالف ولسوالیو کې د پېژندل شویو تخلفاتو شمېر (۵۴) مواردو ته رسېږي.
په ولایتونو کې د تر سره شویو ښاري تخلفاتو څارنه او رسېدنه:
له ښاري تخلفاتو د مخنیوي ریاست، خپل مسلکي او خصصي ټیمونه چې د ولایتونو د ښار جوړولو ریاستونو په چوکاټ کې فعالیت کوي، په یو شمېر ولایتونو کې يې د ښاري تخلفاتو بېلګې په نښه کړي او د شمېر له مخې يې شریک کړي دي:
د پلازمېنې زون (پروان، کاپیسا، میدان وردک) ولایتونو کې د پېژندل شویو تخلفاتو شمېرله ۲۵۰ څخه زیات؛
ختیځ زون (ننګرهار، لغمان) ولایتونو کې د پېژندل شویو تخلفاتو شمېر شاوخوا (۱۳۲)؛
سویل زون (نیمروز، هلمند) ولایتونو کې د پېژندل شویو تخلفاتو شمېر شاوخوا (۷۲۳)؛
شمال ختیځ زون (بغلان، بدخشان، تخار، کندز) ولایتونو کې د پېژندل شویو تخلفاتو شمېر شاوخوا (۹۸۵)؛
لوېدیځ زون (فراه، بادغیس) ولایتونو کې د پېژندل شویو تخلفاتو شمېر شاوخوا (۹۲۱)؛
او په مرکز زون (غور، بامیان) ولایتونو کې د پېژندل شویو تخلفاتو شمېر شاوخوا (۱۷۰).
چې په ټوله کې، د یاد شویو ښاري تخلفاتو څخه (۱۰۲) مواردو ته يې رسېدنه شوې او دوام لري.

# مسکن اجتماعی

انجنیر رحمت الله بیات

## مقدمه :

مسکن اجتماعی مترادف واژه‌ی مسکن عمومی تلقی می‌شود. مسکن اجتماعی پس از جنگ جهانی به دلیل خرابی‌های زیاد ناشی از جنگ، مورد توجه قرار گرفت و همانطور که خواهید خواند دارای تعریف ثابتی نیست. سال‌های مدیدی است، در کشورهای مختلف برای حل مشکل مسکن در جامعه، مسکن اجتماعی مطرح شده است. دولت‌ها آن را راه حلی برای تامین مسکن گروه‌های کم‌درآمد جامعه یافتند. مسکن اجتماعی (Social Hous-ing) مترادف واژه‌ی مسکن عمومی (Public Hous-ing) تلقی می‌شود.

## ساخت مسکن اجتماعی برای کم درآمدها تا واگذاری به افراد مرفه

مسکن اجتماعی تعریف ثابتی ندارد، این نوع مسکن در کشورهای مختلف، متفاوت است. اما با وجود تفاوت‌ها، مولفه‌های مشترکی نیز در تعریف مسکن اجتماعی وجود دارد که آن را از دیگر انواع مسکن متمایز می‌سازد. به طور کلی مسکن اجتماعی نوعی از مالکیت مسکن است که در آن مالک، دولت‌های ملی-محلی و یا سازمان‌های غیرانتفاعی هستند که مسکن مورد نظر را به صورت استیجاری در اختیار گروه‌های هدف سیاست‌گذار قرار می‌دهند. در کشورهای مختلف بین 10 تا 30 درصد مسکن در حال ساخت را مسکن اجتماعی شامل می‌شود. نرخ اجاره بها در این گونه مساکن پایین‌تر از متوسط نرخ اجاره بها در بازار آزاد مسکن است. در دهه‌های اخیر با توجه به افزایش هزینه‌های تعمیر و نگهداری مسکن اجتماعی، برخی از کشورها به سمت ساخت مسکن ملکی با استفاده از شیوه‌های مشارکتی با بخش خصوصی رفته‌اند. خصوصیات مسکن اجتماعی با توجه



به شرایط کشورها تغییر می‌کند؛ برای مثال در مصر و سری‌لانکا به دلیل فقدان منابع مالی کافی و هزینه‌ی بالای تمام شده این مسکن‌ها، گروه‌های متوسط و نسبتا مرفه‌تر از این مسکن‌ها بهره‌مند شدند. این برخلاف هدف‌گذاری اولیه بود که در نظر داشت این مسکن‌ها را برای استفاده گروه‌های کم‌درآمد بسازد.

## مسکن اجتماعی راه‌حلی برای خرابی‌های ناشی از جنگ جهانی

مسکن اجتماعی بعد از جنگ جهانی به عنوان یکی از راه‌های تامین مسکن گروه‌های کم‌درآمد و میان‌درآمد مورد توجه قرار گرفت. از نیمه دوم قرن نوزدهم ایده ایجاد مسکن اجتماعی برای حل بحران مسکن گروه‌های کم‌درآمد در کشورهای صنعتی مطرح شد. خرابی‌های حاصل از جنگ جهانی و همچنین صنعتی شدن و آمدن مهاجران از روستا به شهر برای کار در صنایع باعث بروز بحران مسکن در این کشورها شده بود. کشورهای پیشرو در زمینه مسکن اجتماعی انگلستان، آلمان و هلند بودند که اقدام به ساخت و اجاره واحدهای مسکونی کم‌درآمد کردند. ساخت مسکن اجتماعی در دهه‌ی 1950، 1960 و نیمه اول 1970 به صورت گسترده

رواج داشت اما بعد از آن، این الگو در اغلب کشورها تغییر کرد .سیاست‌های اجتماعی حمایتی مسکن طیفی از سیاست‌های کاملا دولتی تا سیاست‌های کاملا بازاری را نشان می‌دهد. سیاست‌های اجتماعی حمایتی مسکن از ارائه‌ی مسکن اجتماعی و شیوه‌ای کاملا حمایتی در دهه‌های 1970 و 1980 با تغییرات زیادی رو به رو شده است و در دهه 2000 به صورت توانمندسازی خانوار برای حضور در بازار مسکن درآمده‌اند.

**ضرورت دخالت دولت در بازار مسکن**

صرف نظر از تاثیرات سیاست مسکن اجتماعی، تجربه این سیاست که در سیاست‌گذاری اکثر کشورهای اروپایی و آمریکایی دیده می‌شود، لزوم و ضرورت دخالت در بازار مسکن را به وضوح نشان می‌دهد. کشورهایی مانند انگلیس و آمریکا که از اقتصاد آزاد پیروی می‌کنند نیز در بخش مسکن به روشنی دخالت کرده‌اند؛ برای تنظیم بازار مسکن و تامین مسکن گروه‌هایی که قادر به تامین مسکن خود نیستند تلاش می‌کنند و تولید مسکن اجتماعی یکی از دلایل کنترل قیمت مسکن در کشورهای اروپایی و کانادا است. دولت، مسکن اجتماعی را به افرادی که نیاز دارند، می‌دهد. قدرت پرداخت اجاره برای ساکن شدن در مسکن اجتماعی، مهم است اما مثل بخش خصوصی تعیین‌کننده نیست. باید توجه داشت که تامین مسکن اجتماعی فراتر از تولید است؛ برنامه‌ریزی، تهیه و توزیع مسکن و حتی اداره و نگه‌داری آن را شامل می‌شود. تامین‌کنندگان مسکن اجتماعی لزوما تولیدکنندگان آن نیستند. دولت می‌تواند تولید مسکن اجتماعی را به بخش خصوصی واگذار کند اما نقش موثر دولت در تامین زمین و بودجه ساخت تعیین‌کننده است. بخش اعظم بودجه از وام‌های بلندمدت با بهره‌ی کم، سبسایدهای مختلف و کمک‌های مالیاتی یا حتی معافیت مالیاتی برای دوره‌ای معین برای کاهش هزینه ساخت در نظر گرفته می‌شود. زمین بر قیمت تمام شده مسکن تاثیر به سزایی دارد. در تمامی کشورها سعی کرده‌اند قیمت زمین را کاهش بدهند. مهم‌ترین روش‌هایی که برای کنترل قیمت زمین مورد استفاده قرار گرفته است بدین قرار اند؛ کنترل کاربری زمین از طریق صدور مجوز ساخت، ذخیره زمین بوسیله‌ی شهرداری‌ها و حکومت‌های محلی، سیاست‌های مالیاتی برای خرید و فروش زمین، مالیات بر زمین‌های خالی، سبساید و تخفیف مالیاتی به سازندگان مسکن اجتماعی دخالت در بازار مسکن تحت لوای سیاست مسکن اجتماعی می‌تواند به شیوه‌های مختلفی صورت بگیرد. دولت‌های مختلف شیوه‌های متفاوتی را انتخاب می‌کنند از جمله عرضه مستقیم مسکن جدید اجاری بوسیله‌ی بخش دولتی یا عمومی مانند شهرداری، عرضه مسکن جدید اجاری بوسیله‌ی انجمن‌های غیرانتفاعی از طریق یارانه‌های زمین وام ارزان و غیره به طور ثابت عرضه‌ی مسکن جدید اجاری بوسیله‌ی بخش خصوصی از طریق قرضه های زمین، وام ارزان و غیره با مالکیت مشروط مسکن ملکی جدید مناسب توان‌پذیر به طور فردی با قرضه‌های زمین، وام ساخت و رهنی ارزان و غیره برای سکونت مالک مسکن ملکی جدید مناسب توان پذیر با مالکیت اعضا انجمن‌های غیرانتفاعی با قرضه های زمین، وام ساخت و رهنی ارزان و غیره ارائه‌ی قرضه‌ی مستقیم به خانوار برای اجاره‌ی مسکن مناسب ارائه‌ی وام مسکن رهنی ارزان ارائه‌ی انواع قرضه به طور فردی یا جمعی (انجمن‌های غیرانتفاعی) برای بهسازی و بازسازی مسکن موجود برای تصرف ملکی یا استیجاری مشروط.

همانطور که ذکر شد مسکن اجتماعی به عنوان راه‌حلی برای بحران مسکن بعد از جنگ جهانی در کشورهای صنعتی مورد توجه قرار گرفت. مسکن اجتماعی تعریف ثابتی ندارد اما ابزارهای کلی برای دخالت دولت در بازار مسکن جهت تامین مسکن گروه‌های کم‌درآمد را شامل می‌شود. هرچند در برخی از کشورها از مسکن استیجاری اولیه به سمت تامین مسکن ملکی به کمک بخش خصوصی رفته‌اند اما به نظر می‌رسد هنوز هم مسکن اجتماعی به صورت تامین واحدهای مسکونی کوچک اجاری گام اول حل بحران مسکن است.

# د ترافیکو د تګ راتګ مسیرونو کې
# د کور او ښار جوړولو وزارت رول

مولوي بسم الله غواص شملزی

ښاري پلانونه هغه څه دي چې د یو ښار ټولې برخې په کې شاملې وي او د هر اړخ لپاره یې خپل مشخصات او مسیر معلوم کړی وي. دا چې په نړۍ کې څلور ډوله ترافیک شتون لري: هوایي، بحري، ځمکني او پر اوسپنیزه کرښه، خو دا چې افغانستان په وچه کې راګیر هېواد دی، نو بحري ترافیک نه لري او پاتې درې ډوله یې شته، چې د یادو ترافیکو د تګ راتګ مسیرونه، قواعد او اصول معلوم او پر مراعتولو یې ټینګار کېږي.

کله چې د کور او ښار جوړولو وزارت مهندسان، انجنیران، ښارجوړونکي او نور اړوند مسؤلین د یو ښار او یا ولایت لپاره پلان جوړوي، نو ټولې ښاري اړتیاوې په پام کې نیسي، چې د ترافیکو د تګ راتګ مسیرونه هم په کې شامل وي.

د سړکونو طرح او ډیزاین، مسیرونه، پراختیا، اوږدوالی، معیار، د ترافیکي اصولو سره سم د تم ځایونو، ښاري او اطرافي هډو، د ترافیکو پولیسو او نورو اړوندو ادارو په همکارۍ د ترافیکي علایمو نصبولو لپاره د ځایونو مشخص کولو، کرښو او نورو اړینو مواردو لپاره تابیا نیول کېږي.

اړینه ده چې د ښاري نظم ساتلو په موخه د ترافیکو نظم هم مراعات شي او کوم اصول او قواعد چې د ترافیکو لپاره ځانګړي شوي، خلک ترې ځان خبر او عملي کړي.

هر هېواد کې د تګ راتګ لارو د ګواښونو لیرې کولو او خوندي کولو باندې ټینګار کېږي او دا چې افغانستان یو اسلامي هېواد دی، نو لازمه ده چې د شریعت پر بنسټ د تګ راتګ لارو اصول او قواعد خوندي شي.

لکه څنګه چې په یو حدیث مبارک کې راغلي چې تاسې د لارو څخه اذیت او ضرر رسوونکي شیان لیرې کړئ او دا یې د ایمان یوه برخه هم ګڼلې ده، نو لازمه ده چې د تګ راتګ لارو د خوندیتوب لپاره په پلانونو او عملي ژوند کې پاملرنه وشي. د همدې موخې د پلي کېدا لپاره د افغانستان اسلامي امارت په خپل چوکاټ کې یو عمومي ریاست تشکیل او منظور کړی، چې د خلکو د هوساینې او ښاري نظم لپاره لاس په کار شي. دغه ریاست د موټرو د تګ راتګ او د پلي کسانو د تګ راتګ اصول او قواعد معلوم او بیان کړي او خلک یې د یادو اصولو او قواعدو پر عملي کېدا مکلف ګرځولي، ځکه که یو انسان دغه اصولو او قواعدو ته پاملرنه ونه کړي او له بې احتیاطۍ کار واخلي، نو ځان او نور انسانان له خطر سره مخامخ کوي چې مالي او ځاني زیان اړوي او ښایي د اخروي عذاب وړ هم وګرځي.



د ښاري نظم ساتلو لپاره یو هم فعال سګنالونه دي چې په درې رنګه دي؛ سور، ژیړ او زرغون. سور څراغ د ودرېدو لپاره دی، ژیړ د سړک تخلیه کولو لپاره د تیاري نیولو لپاره او زرغون هغه بیا د تګ اجازه ده، چې باید ژر تر ژره سړک یا څلور لارې تخلیه شي، چې سر غړونکی یې مجرم ګڼل کېږي.

د ترافیکو پولیس هم باید ځان په مشخص لباس مزین کړي، څکه دوی هم یو له هغو علایمو دي چې ښاري نظم پرې ساتل کېږي او موټر چلونکو ته لارښوونې کوي، خدمت کوي، او باید له غوره چلند کار واخلي.

د ترافیکو پولیسو بې غوري هم د ښاري نظم په اخلال او ګډودۍ کې اغېزمن رول لري چې د یو ښار اوسېدونکو ته ګڼ شمېر ستونزې رامنځته کوي.

نو د ښاري ژوند زده کړه او عملي کول یې د ویې ټولنې په هر فرد لازمې خبره ده او د همدغې ټولنې د هویت څرګندونه کوي، چې که یو بهرنی کس راشي، لومړی د ښار نظم او دسپلین ته ګوري که منظم وي، نو ټولو اوسېدونکو او ښار ته د یو منظم ښار او منظمو اوسېدونکو فکر کوي او که خدای مه کړه بې نظمي او ګډوډي وي، نو ښار او خلک ورته بې نظمه او دسپلینه ښکاري چې د خلکو هویت او اخلاق تر پوښتنې لاندې راولي.

د ترافیکو پولیس باید د موټر چلوونکو جواز حتمي وګوري او ځان ډاډمن کړي او خلک هم باید د موټر چلولو تخنیک او اصول زده کړي، جواز ترلاسه او بیا موټر ته پر سړک خوځښت ورکړي، له دې پرته ستره ګناه ده چې خلکو ته زیان پېښېږي او په قران کریم کې راغلي چې تاسې یو له بل سره په ګناه او ظلم کې مرسته مه کوئ، نو د ترافیکو پولیس باید ځانونه ډاډمن کړي چې ټول موټر ګرځوونکي د موټر چلولو جواز لري او پر اصولو برابر دي.

د موټر چلونکي ته لازمه ده چې ځان د موټر چلولو پر اصولو او قواعدو پوه کړي او دا بیا لامل کېږي چې د تېروتنو مخنیوی وشي، ښاري نظم مراعات شي، ګڼه ګوڼه کمه شي، ستونزې راکمې شي، د مالي او ځاني زیان مخنیوی کېږي.

که یو کس یا موټر چلونکی په یوه ښار کې نابلده وي، نو لازمه ده چې د ترافیکو له پولیسو پوښتنه وکړي، د هغوی دنده ده چې تاسې سالمه او مناسبه لاره در وښیي.

تاسې به ځینې غوره ویناوې لیدلې او اورېدلې وي، چې د بېلګې په توګه یې ځینې دلته بیانوو:

١ – د موټر تېز چلول، له مرګ سره ډغرې وهل دي؛

٢ – یوه کوچنۍ تېروتنه، د لویو زړه بوږنونکو پېښو د رامنځته کېدو لامل ګرځي؛

٣ – له نه رسېدو څخه، ناوخته رسېدل غوره دي؛

۴ – پولیس د ټولنې خدمت ګار؛

۵ – د ترافیکو له پولیسو پرته ښار، د بې څراغه کور په څېر دی

٦ – له پېښې او حادثې تېښته کول، جرم دی. او داسې نور



# فعالیت‌ها و دستاوردهای ریاست شهرسازی و مسکن ولایت هرات مصاحبه با محترم انجنیر عبدالله اکبری

مصاحبه کننده: عزیزالله فروغی

**اشاره:** محترم انجنیر عبدالله اکبری، رئیس شهرسازی و مسکن ولایت هرات، السلام علیکم و رحمت الله و برکاته؛ از اینکه فعالیت‌های انجام شده و دستآوردهای تان را برای ریاست ارتباطات عامه وزارت جهت نشر به اشتراک می‌گذارید تشکر و قدردانی می‌گردد.

**جواب:** السلام علیکم و رحمت الله و برکاته، الحمدلله حمدا کثیرا طیباً مبارکاً فیه والصلواة والسلام علی اشرف الانبیاء وخاتم النبوة، حبیب قلوبنا محمد مصطفی صلوات الله علیه و آله اجمعین اما بعد، تشکر و سپاس فراوان از شما که فعالیت‌ها و دستاوردهای وزارت شهرسازی و مسکن را از این طریق به مردم می‌رسانید و مصدر خدمت و باعث انگیزه برای دست اندرکاران و مشوق برای فعالیت‌های آتی شان می‌گردید.

**س1.** چنان‌که نیک می‌دانید، ولایت هرات یکی از ولایت‌های مهم و هممرز با کشورهای همسایه و شهر هرات یکی از شهرهای باستانی کشور است، پیشرفت‌های صورت گرفته در بخش توسعه شهری چگونه است؟

**ج1.** همان‌طوریکه اشاره فرمودید، ولایت هرات با درنظرداشت موقعیت جغرافیایی، هممرز بودن با دو کشور همسایه و موجودیت دو بندر «تورغندی و اسلام قلعه» از جایگاه ویژه‌ی برخوردار است. با این وجود و با درنظرداشت رشد روز افزون نفوس و مهاجرت‌ها، سرمایه‌گذاری‌های اقتصادی و ظرفیت هرات، این ولایت نیاز به کار، تلاش، توجه و برنامه‌ریزی بیشتر داشته و در عین حال نیاز به امکانات تخنیکی و نیروی بشری بیشتری نیز دارد. با نیروی دست‌داشته و امکانات موجود، این ریاست با کار تیمی منسجم توانسته فعالیت‌های ذیل را در طی دو سال گذشته انجام دهد.

همکاری مستمر در روند ترتیب پلان بزرگ بهسازی، سروی و ترتیب پلان معابر توسعه‌ی شهر هرات، مطالعه همه جانبه، سروی و انتخاب یک ناحیه به مساحت «۴۵ هزار جریب» به منظور انکشاف پارک‌های صنعتی و شروع سروی‌های مقدماتی به منظور طراحی این شهرک صنعتی با افق ۵۰ ساله از کارهای انجام شده در بخش پلان‌سازی برای توسعه شهری انجام شده است.

همچنان سروی پنج ساحه به منظور ایجاد پارکینگ موترهای لاری (Truck)، تطبیق ماسترپلان‌های ولسوالی‌های شیندند و گلران و بندر تورغندی و سروی و ترتییب پلان میان مدت حفاظت و توسعه فضای سبز هرات و نظارت از پلان متذکره از دیگر کارها در این بخش بوده است.

به همین ترتیب پلان ۱۱ شهرک مسکونی برای زلزله‌زدگان ولسوالی‌های زنده‌جان، غوریان و انجیل و پلان 100 واحد مسکونی در قالب شهرک مسکونی برای سیل‌زدگان ولسوالی چشت ولایت هرات ترتیب شده است.

سروی و مطالعه ساحات جهت ساخت ترمینال مسافربری مرکزی ولایت هرات به مساحت «۱۰۰۰ جریب» زمین، سروی و ترتیب پلان قبرستان عمومی شهر هرات به نام (دیار الرحمة) به مساحت ۱۴۵۰ جریب زمین در شمال غرب شهر هرات، سروی و آسیب‌شناسی شهر قدیم و نقاط آسیب‌دیده آبدات تاریخی به منظور ترمیم و جلوگیری از تخریب و نظارت و پیگیری از پروژه مرمت بام‌های مسجد جامع تاریخی شهر هرات انجام یافته است، و نیز سهم گیری و همکاری تخنیکی در سکتور شهری با ادارات مختلف دولتی به منظور تطبیق با کیفیت پروژه های ساختمانی در سطح ولایت هرات از جمله کارهای است که توسط این ریاست صورت گرفته که به صورت مختصر یادآوری کردیم.

**س2.** در اثر سعی و تلاش شما و مقام وزارت شهرسازی و مسکن در این دو سال اخیر تاهنوز چند ماسترپلان و پلان تفصیلی از طرف وزارت برای این ولایت تهیه و ترتیب شده است؟

**ج2.** تا اکنون ۱۵ پلان بهسازی و تفصیلی نواحی شهر هرات بعد از تکمیل مراحل تخنیکی و قانونی در همکاری با ریاست بهسازی ساحات غیر پلانی ترتیب و توسط مقام محترم وزارت شهرسازی و مسکن تائید، ویزه و به مرحله اجراء در آمده است.

س3. موضوع تخلفات شهری در ولایت هرات باستان چگونه بوده است؟ و به چه تعداد تخلفات شهری رسیدگی شده است؟

**ج3.** موضوع رسیدگی به تخلفات شهری یکی از دغدغه‌های مهم این ریاست بوده که خوشبختانه حتی قبل از تغییرات در تشکیل، این ریاست بخاطر رسیدگی به تخلفات و مهمتر از آن جلوگیری از تخلفات، اقداماتی ضروری انجام داده است، اما تا موقیعی که رهنمود کاری و طرزالعمل این بخش از وزارت شهرسازی و مسکن تهیه شود، ما عجالتا یک تیم رسیدگی ایجاد کرده‌ایم که گزارشات را به‌صورت هفته‌وار ترتیب و به نهادهای زیربط از جمله مقام وزارت شریک می‌کنیم و موارد مهم را فورا به منظور جلوگیری به شاروالی‌ها اعلام می‌کنیم.

**س4.** توسعه و انکشاف شهری در هرات باستان چه حد بر اساس پلان شهری بوده و چه اندازه غیر پلانی صورت گرفته است؟

**ج4.** توسعه شهری هرات در محدوده نواحی تا حدود زیادی براساس پلان بوده و مشکلاتی هم که وجود داشته از طریق پلان بهسازی حل می‌شود؛ به دلیل غفلت حکومت‌های پیشین در قسمت تهیه پلان انکشافی، عمدتا رشد غیر پلانی و طبیعی شهر هرات، خارج از نواحی و در ولسوالی همجوار شهر هرات (ولسوالی انجیل) صورت گرفته است. اما با ایجاد تیم رسیدگی به تخلفات شهری در تشکیل و بعد از تائید طرزالعمل آن، و همچنین ایجاد آمریت امور شهری، امیدواریم تا از مشکلات آینده جلوگیری نموده و پلان‌های توسعه‌ی را با همکاری مقام محترم وزارت ترتیب و به صورت دقیق و کامل تطبیق کنیم.

**س5.** موضوع غصب زمین در هرات چگونه بوده و آیا از غصب جلوگیری و استرداد شده است؟

**ج5.** متأسفانه در ادوار انقلاب و بی‌نظمی و خیانت نظام‌های پیشین، غاصبین اراضی وسیعی از املاک امارتی، اوقافی و یا علفچرهای عامه را تحت تصرف

خود قرارداده بودند، بعد از تعیین کمیسیون ولایتی و هیئت‌های تخنیکی برای جلوگیری از غصب و استرداد در سطح ولایات بر اساس فرمان امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی، خوشبختانه تصرفات غیر شرعی دراین ولایت نیز مانند سایر ولایت ها به صورت کلّی متوقف شده است. غاصبین بعد از ابتکار عمل کمیته هرات و همکاری اداره محلی، فورا دست از تصرفات کشیده اند، سیاست کلی کمیته ولایتی هرات بر حفاظت و جلوگیری از املاک تصرف نشده، جلوگیری از ساخت‌وساز و خرید و فروش در نواحی تصرف شده، حفاظت و حراست از چراگاه‌های عامه است، بررسی و ترتیب دوسیه‌های املاک تصرف شده و ارجاع آن به کمیسیون مرکزی، بر اساس رهنمود کاری بوده و این روند به صورت کاملا موفقانه صورت می‌گیرد.

این کمیته تا اکنون همه املاک امارتی، اوقافی، مرعی‌های عامه و خصوصی را کاملا شناسایی، حفاظت و از تصرف جلوگیری نموده و برای تمام اراضی تصرفی، دوسیه ترتیب داده و اقدامات لازم را برای استرداد اراضی غصب شده، انجام داده است.

**س6.** ریاست شما چه تعداد تعمیرات را دراین ولایت برآورد کرده است؟

**ج6.** تیم برآورد این ریاست، در طول این مدت بیش از ۱۵۰ مورد را بر آورد ابتدائی و نهائی نموده که این همکاری تخنیکی با ادارات محترم دولتی به صورت دوامدار جریان دارد.

**س7.** در بسیاری از ولایات کشور موضوع پمپ استیشن‌های تیل از لحاظ کروکی واسکیج مطرح بوده، در ولایت هرات باستان چگونه است وچه کارها انجام شده است؟

**ج7.** روند صدور مجوز ساختمان پمپ استیشن‌ها در ولایت هرات بر اساس طرزالعمل مشترک به روش خوبی جریان دارد، ریاست شهرسازی و مسکن هرات، بعد از طی مراحل قانونی و ترتیب اسناد تخنیکی به منظور جلوگیری از توزیع مواد سوختی به صورت غیر قانونی و غیر اصولی با هماهنگی اداره محلی هرات و مقام محترم وزارت، این روند را تسریع می‌بخشد.

**س8.** از تطبیق نقشه‌های تعمیرات و و ساخت و ساز پروژه‌های ساختمانی امارتی که از طرف ریاست شما نظارت صورت می‌گیرد، روند نظارت ریاست شما دراین زمینه چه قسم پیش می‌رود؟

**ج8.** ریاست شهرسازی و مسکن هرات، منحیث یک مرجع فنی، تخنیکی و تخصصی با تمام ادارات سکتوری و خصوصی همکاری داشته و در تطبیق نقشه‌ها و اجرای پروژه‌های ساختمانی شان در خصوص طراحی، نظارت و مراقبت در روشنی قانون همکاری دارد. از آن جمله حدودا در دو سال گذشته این اداره بالغ بر ۵۰ پروژه ساختمانی بزرگ و کوچک را تطبیق، مراقبت و نظارت نموده که به صورت استاندارد و با کیفیت عالی اجراء و به بهره‌برداری سپرده شده است. دراین روند، مسایلی چون کیفیت مواد ساختمانی، نحوه تطبیق و اجراء، ایمنی کارکنان و همچنان تست‌های لازمه مواد، به نحو احسن مراعات می‌گردد.

**س9.** برخی فعالیت‌های دیگر که از طرف ریاست شما انجام شده است نیز لطف نموده توضیح بدهید.

**ج9.** بررسی و سروی بندر خشکه، سروی، طراحی و دیزاین مسجد جامع بزرگ گذره هرات، شروع ساخت پلان تفصیلی ولسوالی رباط سنگی، سروی میدان میوه و تره‌بار بین‌الولایتی، ترمینال باربری، طراحی و اصلاح مقاطع چهارسوی گذره (ورودی شهر هرات) و تعدادی نمادهای داخل و بیرون از شهر هرات از جمله فعالیت‌های روی‌دست این ریاست می‌باشد.

# په دندو کې مسؤلیت منل

عزیزالله فروغی

**سریزه :**

په هره اداره کې د دندو په لحاظ د مسؤلیت منل د پرمختګ او سکون لامل ګرځي، هر بنسټ هڅه کوي ترڅو داسې افراد په دندو وګماري چې مسؤلیت منونکي وي او هېڅ بنسټ نه غواړي چې خپلې چارې داسې اشخاصو ته په لاس ورکړي چې ترسره کولو ته يې ارزښت نه ورکوي او نه ورته ژمن وي.

پورته ځانګړتیاوو ته په کتو هغه اشخاص چې مسؤلیت منونکي وي، د لوی عزت څښتن وي او د خپلو ورځینو چارو په ترسره کولو کې ښې لاسته راوړنې لري.

مسؤلیت منونکي خلک هېڅکله بهانې نه کوي، له پېښو شکایت او ګیلې نه کوي او په چارو کې منفي احساساتو ته هم ځای نه ورکوي.

که په ټولنه، چاپېریال او اداره کې، مسؤلیت منل نه وي، د ټولنې، چاپېریال، ادارې او هغه بنسټونه چې په دغه ټولنه کې دندې ترسره کوي، وضعیت يې د خرابۍ پر لور خوځښت کوي او بالاخره له بحران سره مخامخ کېږي.

نو ځکه د مسؤلیت منل له فردي غوښتنې علاوه یوه ټولنیزه اړتیا هم ده، چې خلک ورته په تمه وي.

**پېژندنه:**

د مسؤلیت کلمه (responsibility) په سازماني مدیریت کې دوه بېلا بېلې معناوې لري:

ځینې يې داسې بیانوي چې، په یو سازمان کې کار کوونکو ته د منلو پر بنسټ د دندو سپارل دي او بل نظر بیا دا دی چې، مسؤلیت د فرد هغه ژمنتیا ده چې د ورسپارل شوې دندې ترسره کولو ته يې لري.

کولای شو چې مسؤلیت منل په وجدان او زړه کې یوه ژمنتیا وګڼو چې خپله شخص یا بل کس پرې ګماري، د مسؤلیت منلو لپاره اړتیا ده چې یوه شو د ځان لپاره څنګه ژمنتیا پیدا کولای شو، تر څو دندې په غوره بڼه ترسره کړو او د هغه مسؤلیتونو له منلو ډډه وکړو چې په ترسره کولو يې توان ونه لرو.



داسې هم ویلای شو چې، په ټاکلي وخت د تعین شوي کار ترسره کولو ته مسؤلیت منل وايي.

## ځانګړتیاوې

## مسؤلیت منونکي کسان څلور ځانګړنې لري:

### 1. د باور وړ وي:

له نېکه مرغه ژمن انسانان په تیزۍ مسؤلیت منونکي دي او په ورته وخت کې د ورسپارل شوي کار په تړاو جواب ویونکي وي، نور پرې باور کوي او د خلکو ترمنځ د یو ښه انسان په توګه پېژندل کېږي.

### 2. بهتر کار ترلاسه کوي:

هغه کسان چې مسؤلیت منونکي دي، په نسبت هغه کسانو ته چې مسؤلیت نه مني، ښه او بهتره دنده ترلاسه کوي، په ورته وخت کې امرین او مدیران خوښوي چې دنده او مسؤلیت داسې کسانو ته وسپاري چې په ترسره کولو یې برلاسي او په تړاو یې جواب ویونکي وي، چې مسؤلیت منونکي وګړي پورته ځانګړتیاوې لري.

### 3. تل روحي او رواني سکون لري:

مسؤلیت منونکي کسان سربېره پر دې چې پر ځان د نورو باور ترلاسه کوي، د خپل ځان لپاره پراخ فکر او ارام ذهنیت لري، طبیعتاً ښه اخلاق او مسکا پر خوله وي او همدغه اخلاقي سلامتي د دوی د رواني او فکري سلامتۍ سره مرسته کوي. ځکه چې د هغوی په فکر د مسؤلیت منلو معنا همدا ده، چې د یو کار منل، ترسره کول او په تړاو یې جواب ویل. مسؤلیت منونکی کس تل په خپلو چارو برلاسی وي او هغه خلک چې له ده سره اړیکې او کار لري، ترې خوشحاله وي.

### 4. د ستونزې حل لپاره لوړ فکر لري:

مسؤلیت منونکی کس په نورماله توګه د یوې دندې په ترسره کولو کې له بېلا بېلو حل لارو، څېړنو، ارزونو او عملي ازموینو کار اخلي او په غوره توګه د یو کار پایلې ته رسېږي.

د برنامو جوړولو خوښوي او کوم کار چې کوي، خوند ترې اخلي. دا ډول خلک چې لوړ فکر او هوش ولري د چارو ښه ترسره کولو برخه کې پر مهارتونو برلاسي وي.

## د مسؤلیت منلو ګټې

مسؤلیت منل له داخلي او وجداني ژمنتیا زېږي او نه یوازې د ځان، بلکې د نورو لپاره هم د ګټې رسولو احساس پیدا کوي او یو له مهمو اخلاقي او شخصیتي صفاتو همدا ده چې د چارو ترسره کولو په وړاندې ژمنتیا او مسؤلیت منل موجود وي. معلومه خبره ده چې کوم کس مسؤلیت منونکی وي په چارو او د ژ،ند په تېرولو لارو چارو کې زیات بریالی وي او په خپل سازمان او ټولنه کې محبوبیت لري.

### 1. په ځان ډېر باور لرل:

مسؤلیت منونکي کسان د بریا ستر پوړونو ته په چټکۍ رسېږي او پر ځان باور کول یې هوډ پیاوړی کوي او د یو کار په اړه د ارزښت احساس کوي.

### 2. لوړ منطق:

مسؤلیت منونکي کسان لومړی یوه موضوع د عقل او فکر له پلوه سنجش او تلي، چې ایا هغه دنده چې ورته سپارل کېږي له وس یې پوره ده که نه؟ که ورسپارل شوې دنده یې په وس پوره وه، هغه مهال مسؤلیت مني او د ترسره کولو په لټه کې یې کېږي او په تړاو یې ځان جواب ویونکي ګڼي.

### 3. جواب ویولو ته وده او د فعالیتونو ښه کول:

مسؤلیت منونکي کسان پر خپل ځان له باور پیدا کولو وروسته د یو کار په تړاو یې جواب ویل پیاوړي کېږي او دا جواب ویل په دې معنا چې یاد کس تېروتنه نه کوي، د چارو ترسره کولو په مهال ښایي تېروتنه وکړي، خو ډېر ژر

يې حلوي او د خپلو چارو د اصلاح په لټه کې وي، نو په داسې حال کې بيا شخص د لا زياتې بريا او پرمختګ ښښتن کېږي.

## 4. د نورو لپاره د باور وړ کېږي:

داسې اشخاص په ټولنه کې زيات باور پيدا کوي او خلک پرې ډاډه وي، په همدې لحاظ که يو څوک ورته دنده يا کوم مسؤليت وسپاري، نو کولای شي په ارام فکر او راحتۍ د هغې چارې په ترسره کولو برلاسی شي او تل هڅه کوي چې چارې په غوره توګه ترسره کړي او د ادارې په پرمختګ کې مرسته وکړي.

څنګه وکولای شو مسؤليت منونکي کسان و اوسو؟

په هر ځای لکه کارځای، ټولنه، په داخل د يوې کورنۍ کې او نورو کې د مسؤليت منل يو ضروري کار دی او سترې ګټې لري او دا يوه مهمه او اړينه موضوع بلل کېږي.

مسؤليت منل په حقيقت کې داسې دي، چې وګړي يې له کوچنيوالي په لټه کې وي او ځينې نښې او نښانې په کار او عمل کې له ځپله ځانه ښيي، اما دا په دې معنا نه ده چې نور وګړي نه شي کولای له دغه صفت برخمن شي. ټول انسانان کولای شي د غوره او با کيفيته زده کړو په ترلاسه کولو سره په ځانګړې توګه د کوچنيوالي په دوره کې، په ټولنه کې د يو شسؤليت منونکي وګړي په حيث ژوند وکړي، چې خلک به يې په نيکو صفاتو يادوي او ترې خوښ به وي.

## پايله:

مسؤليت منل د يوې ادارې د بريا ستر راز دی، کله چې يو کس مسؤليت ومني، نو د هغه کار سرته رسول پرې لازمي دي، ځکه که يو شخص مسؤليت ومني او په ترسره کولو کې يې غفلت او بې پروايي وکړي، دا چاره د مسؤليت نه منلو په لور عادت پيدا کوي او په ټولنه کې بې باوري رامنځته کوي. نو لازمه ده چې هر شخص د مسؤليت منلو په صورت کې ورسپارل شوې دنده په سمه توګه او په خپل وخت کې سرته ورسوي، کنه خدای مه کړه په ټولنه کې يو بې باوره او پروا کس پېژندل کېږي چې خلک به ورته درناوی ونه لري.

بنايي له ځينو موضوعاتو سره کله داسې پېښې رامنځته شي چې له مسؤليت منلو وروسته بې پروايي رامنځته شي، خو دا چاره ډېره کمه وي او کله کله په يو بنسټ او اداره کې داسې کسان هم وي چې هغوی په چارو سترګې پټوي، خو په دوامداره توګه له مسؤليت تېښته او نه منل سازمان له بحران سره مخامخ کوي.

که يو شخص د يو سمؤليت په ترسره کولو برلاسی نه وي، ښه به وي چې په لومړي سر کې ترې ډډه وکړي، تر څو هغه مسؤليت کو بل وړ کس ته وسپارل شي.

# طرح های مسکن قابل استطاعت ریاست تخنیکی مسکن



برنامه ریزی مسکن قابل استطاعت برای اقشار با درآمد متوسط

برنامه ریزی و طرح مسکن قابل استطاعت برای اقشار با در آمد متوسط یکی از طرح های ریاست تخنیکی مسکن میباشد.

این طرح با در نظرداشت شرایط اقلیمی، اقتصادی، اجتماعی و تخنیکی با مساحت عمومی 165 متر مربع در دو منزل بدون تهکو نظر به تقاضا و استاندرد های مهندسی برای فامیل های کوچک و متوسط طرح گردیده است.

این ساختمان شکل و فورم منظم هندسی (مستطیلی) دارد.

مواد ساختمانی آن به سیستم کرکاسی ( آهن کانکریت و خشت پخته) میباشد.


مساحت مجموعی تعمیر=11*15=165 مترمربع

مساحت زیر بنایی= 72 متر مربع

مساحت ساحه باز= 93 مترمربع

قیمت فی متر مربع تعمیر= 130 دالر

قیمت مجموعی=18720 دالر




# مشخصات منازل اول و دوم طرح مسکن قابل استطاعت برای اقشار با درآمد متوسط


اطاق غذا خوری همراه با آشپزخانه باز=3*7.8=23.4 مترمربع

اطاق نشیمن= 5.2*3.5=18.2 متر مربع

تشناب ها= 4.456 مترمربع

دهلیز= 9.20 متر مربع




اطاق خواب=3*4=12 مترمربع

اطاق خواب= 3.6*3=10.8 متر مربع

اطاق خواب والدین=3.8*=15.58 متر مربع

دهلیز=10 متر مربع

تشناب ها= 7 متر مربع



توسعه شهرهای افغانستان با توجه به شرایط فرهنگی، اقتصادی، اجتماعی و وضعیت فزیکی شهر برای ایجاد تسهیلات لازم در زندگی شهروندان، از اهداف اساسی وزارت شهرسازی و مسکن می باشد.

www.mudh.gov.af

MUDH

د کور او ښار جوړولو وزارت

وزارت شهرسازی و مسکن



# ENKESHAF SHAHR

60

Issue No

WWW.MUDH.GOV.AF